**د پوهنې وزارت**

د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې
او د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# ټولنیز لوستونه

## څلورم ټولگی



Ketabton.com

د چاپ کال: ۱۳۸۹ هـ . ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

TM TM TM TM

درسي کتابونه د پوهنې په وزارت پورې اړه لري.
په بازار کې يې اخيستنه او خرڅونه په کلکه منع
ده. له سرغړونکو سره يې قانوني چلن کيږي.

TM TM TM TM

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د پوهنې وزارت**
د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې
او د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# ټولنیز لوستونه

## څلورم ټولګی

د چاپ کال: ۱۳۸۹ هـ . ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کتاب د تالیف، څېړنې او تدقیق کمېټې

## لیکوالان:

- د سرمؤلف مرستیاله شکیلا "حبیب رحیمي" د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د ټولنیزو علومو د دیپارتمنت آمر
- الحاج سرمؤلف نجیب الله "امین افغان" د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د ټولنیزو علومو د دیپارتمنت علمي غړی
- مؤلف سیدحبیب الله ولیزاده د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د ټولنیزو علومو د دیپارتمنت علمي غړی
- د سرمؤلف مرستیال محمد افضل د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د ټولنیزو علومو د دیپارتمنت علمي غړی.

## ژباړونکي

- د سرمؤلف مرستیال محمد افضل
- مؤلف سید حبیب الله "ولیزاده وردک"

## د څېړنې او تدقیق کمېټې:

## د پوهنې وزارت:

- پوهاند غلام جیلاني عارض د جغرافیې د دیپارتمنت ستر سلاکار
- پروفیسور داکترمحمد رازق بهیر د جغرافیې د دیپارتمنت فني سلاکار
- حاجي عبدالاحد غزنیوال د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د ټولنیزو علومو د څانګې علمي غړی
- مؤلف محمدرفیق مومند د جغرافیې د دیپارتمنت غړی
- سیف الرحمن آشنا د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د پښتو دیپارتمنت کار کوونکی او اډیټور.
- سید انور میچنخیل د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د هنرونو دیپارتمنت غړی(رسام).
- محمد حسین احمدزی د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د ټولنیزو علومو علمي غړی
- زبورا د مریم د لیسې ښوونکې

## د محتویاتو، دیني، فرهنګي او سیاسي برخو د څېړنې او کره کتنې کمېټې:

- دوکتور محمد یوسف نیازي د پوهنې وزارت سلاکار
- محمد آصف ننګ د پوهنې وزارت د خپرونو او اطلاعاتو رئیس.

## د څېړنې او تدقیق د څارنې کمیټه:

- دکتور عبدالغفور غزنوي د پوهنې وزارت د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې او د ساینس مرکز معین دکمېټې رئیس

_ محمد صدیق پتمن د پوهنې وزارت تدریسي مرستیال. غړی.

_ د سرمؤلف مرستیال عبدالظاهر ګلستاني د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف رئیس. غړی.

**طرح او ډیزاین:** حمید الله غفاري

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ملي سرود

دا وطن افغانستان دی — دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د تورې — هر بچي يې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی — د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره وو — د ترکمنو د تاجکو
ورسره عرب، گوجر دي — پامېريان، نورستانيان
براهوي دي، قزلباش دي — هم ايماق، هم پشه يان
دا هيواد به تل ځليږي — لکه لمر پر شنه آسمان
په سينه کې د آسيا به — لکه زړه وي جاويدان
نوم د حق مودی رهبر — وايو الله اکبر وايو الله اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

**بسم الله الرحمن الرحيم**

**د پوهنې د وزير پيغام**

**گرانو استادانو، ښوونکو او زده کوونکو،**

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختيا او پرمختگ بنسټ جوړوي. تعليمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکی دی چې د علمي پرمختگ او ټولنې د اړتياوو له مخې رامنځته کيږي. څرگنده ده چې علمي پرمختگ او ټولنيزې اړتياوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعليمي نصاب هم علمي او رغنده انکشاف ومومي. البته نه ښايي چې تعليمي نصاب د سياسي بدلونونو او د اشخاصو د نظريو او هيلو تابع شي.

دا کتاب چې نن ستاسو په لاس کې دی، پر همدې ارزښتونو چمتو او ترتيب شوی دی. علمي گټورې موضوعگانې پکې زياتې شوې دي. د زده کړې په بهير کې د زده کوونکو فعال ساتل د تدريسي پلان برخه گرځيدلې ده.

هيله من يم دا کتاب له لارښوونو او تعليمي پلان سره سم د فعالې زده کړې د ميتودونو د کارولو له لارې تدريس شي او د زده‌کوونکو ميندې او پلرونه هم د خپلو لوڼو او زامنو په باکيفيته ښوونه او روزنه کې پرله پسې گډه مرسته وکړي چې د پوهنې د نظام هيلې ترسره شي او زده‌کوونکو او هېواد ته ښې برياوې ور په برخه کړي.

زه پر دې ټکي پوره باور لرم چې زموږ گران استادان او ښوونکي د تعليمي نصاب په رغنده پلي کولو کې ستره دنده او دروند مسؤوليت لري.

د پوهنې وزارت تل زيار کاږي چې د پوهنې تعليمي نصاب د اسلام د سپېڅلي دين له بنسټونو، د وطن دوستی د پاک حس په ساتلو او علمي معيارونو سره سم د ټولنې د څرگندو اړتياوو له مخې پراختيا ومومي.

په دې ډگر کې د هېواد له ټولو علمي شخصيتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده‌کوونکو له ميندو او پلرونو څخه هيله لرم چې د خپلو نظريو او رغنده وړانديزونو له لارې زموږ له مؤلفانو سره د درسي کتابونو په لا ښه تاليف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه چې ددې کتاب په چمتو کولو او ترتيب کې يې مرسته کړې، له ملي او نړيوالو درنو موسسو، او نورو ملگرو هېوادونو څخه چې د نوي تعليمي نصاب په چمتو کولو او تدوين او د درسي کتابونو په چاپ او وېش کې يې مرسته کړې ده، مننه او درناوی کوم.

ومن الله التوفيق

فاروق وردگ

د افغانستان د اسلامي جمهوريت د پوهنې وزير

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


| سرلیک | مخ |
|---|---|
| **لومړی څپرکی: ټولنیز ژوند (۴ درسي ساعتونه) ......................** | |
| لومړی لوست: ټولنیز ژوند........................................... ..... | ۱-۳ |
| دویم لوست: کورنۍ ........................................................ | ۴-۵ |
| دریم لوست: د کورنۍ ارزښت او ډولونه ............................... | ۶-۸ |
| څلورم لوست: د کورنۍ د غړو دندې............................................ | ۹-۱۱ |
| **دویم څپرکی: ښوونځی. (۳ درسي ساعتونه)............................** | |
| پنځم لوست: د ښوونځي او ښوونې او روزنې ارزښت ........................ | ۱۲-۱۳ |
| شپږم لوست: د ښوونځي د غړو دندې .............................................. | ۱۴-۱۶ |
| اووم لوست: د ښوونځي او ښوونې او روزنې تاریخ ........................ | ۱۷-۱۸ |
| **دریم څپرکی: کلی (۴ درسي ساعتونه) ...................................** | |
| اتم لوست: په کلي کې استوګنه ...................... ............... | ۱۹-۲۰ |
| نهم لوست: د کلیوالو کسبونه او لاسي کارونه.. ............................ | ۲۱-۲۲ |
| لسم لوست: کلی او کرنه...................................... ................ | ۲۳-۲۵ |
| یولسم لوست: کلی او څاروي.................................................. | ۲۶-۲۷ |
| **څلورم څپرکی: ښار (۸ درسي ساعتونه) .................................** | |
| دولسم لوست: ښاري ژوند .................................................. | ۲۸-۲۹ |
| دیارلسم لوست: ښاري کسبونه ................................................ | ۳۰-۳۱ |
| څوارلسم لوست: ترافیکي مقررات ................................................ | ۳۲-۳۳ |
| پنځلسم لوست: دولتي ادارې .................................................. | ۳۴-۳۵ |
| شپاړسم لوست: د ښارونو ډولونه ................................................ | ۳۶-۳۷ |
| اوولسم لوست: د افغانستان مهم او تاریخي ښارونه .......................... | ۳۸-۳۹ |
| اتلسم لوست: د نړۍ لوی ښارونه ........................................... | ۴۰-۴۱ |
| نولسم لوست: د ښاري ژوند چاپیریال........................................ | ۴۲-۴۳ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| سرلیک | مخ |
|---|---|
| **پنځم څپرکی: زموږ هېواد (۱۱درسي ساعتونه)** ........................... | |
| شلم لوست: ملي بيرغ ............................................................ | ۴۵-۴۴ |
| يوويشتم لوست: څلور اصلي خواوې (سمتونه)................................ | ۴۷-۴۶ |
| دوه ويشتم لوست: څلور فرعي سمتونه ........................................ | ۴۹-۴۸ |
| درويشتم لوست: نقشه او د هغې څلور خواوې ................................ | ۵۱-۵۰ |
| څلور ويشتم لوست: زموږ د هېواد څلور خواوې ............................. | ۵۳-۵۲ |
| پنځه ويشتم لوست: زموږ د هېواد اداري وېش ................................ | ۵۵-۵۴ |
| شپږ ويشتم لوست: د افغانستان دين، ژبه، نژاد او نفوس ............... | ۵۷-۵۶ |
| اووه ويشتم لوست: زموږ د هېواد غرونه ..................................... | ۶۰-۵۸ |
| اته ويشتم لوست: زموږ د هېواد د غرونو ارزښت ............................ | ۶۱ |
| نهه ويشتم لوست: زموږ د هېواد سيندونه ...................................... | ۶۴-۶۲ |
| دېرشم لوست: د سيندونو ارزښت .............................................. | ۶۵ |
| **شپږم څپرکی: زموږ نړۍ (۱۴ درسي ساعتونه)** .............................. | |
| يو دېرشم لوست: د نړۍ لويې وچې ............................................ | ۶۷-۶۶ |
| دوه دېرشم لوست: د آسيا لويه وچه ............................................ | ۷۰-۶۸ |
| درې دېرشم لوست: د اروپا لويه وچه .......................................... | ۷۳-۷۱ |
| څلور دېرشم لوست: د افريقا لويه وچه ....................................... | ۷۵-۷۴ |
| پنځه دېرشم لوست: د امريکا لويه وچه ....................................... | ۷۷-۷۶ |
| شپږ دېرشم لوست: د استراليا او اوقيانوسې لويه وچه ....................... | ۷۹-۷۸ |
| اووه دېرشم لوست: انتارکتيکا (جنوبي قطب) ................................. | ۸۱-۸۰ |
| اته دېرشم لوست: سمندرونه او د هغوی ګټې ................................. | ۸۳-۸۲ |
| نهه دېرشم لوست: د اطلس سمندر (اوقيانوس)................................. | ۸۵-۸۴ |
| څلوېښتم لوست: د هند سمندر.................................................. | ۸۷-۸۶ |
| يو څلوېښتم لوست: شمالي منجمد سمندر .................................... | ۸۹-۸۸ |
| دوه څلوېښتم لوست: ځمکه او د هغې شکل .................................. | ۹۲-۹۰ |
| درې څلوېښتم لوست: طول البلدونه او عرض البلدونه ........................ | ۹۴-۹۳ |
| څلور څلوېښتم لوست: د ځمکې حرکتونه ...................................... | ۹۶-۹۵ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی لوست

# لومړی څپرکی

## ټولنیز ژوند

موخې:
- زده کوونکي دې د ټولنیز ژوند په معنا پوه شي.
- زده کوونکي دې له ټولنیزو چارو سره مینه پیدا کړي او هم دې برخه پکې واخلي.

- په لاندې عکسونو کې څه ډول شیان وینئ؟

له لاندې لغتونو سره آشنا شئ:

| | |
|---|---|
| موخه | هدف، مقصد |
| ټولنیز | ګډ، اجتماعي |
| پلورل | خرڅول |
| پېرودل | اخیستل |
| اړیکې | ارتباطات |
| ټولګیوال | همصنفي |
| ټوپیرونه | فرقونه |




خلک په بازارکې د پلورلو او پېرودلو په حال کې



ښوونکی او زده کوونکي په ښوونځي کې



ماشومان د لوبو کولو په وخت کې



خلک په یوه جومات کې د عبادت کولو په وخت کې



د یوې کورنۍ غړي



خلک په یو واده کې د اتڼ کولو په حال کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

آیا لومړي مخ په  انځورنو کې مو کوم داسې انځور ولیدو چې په هغه کې یوازې یو تن وي؟
د لومړي مخ له انځورونو څخه هر یو یې د ټولنیز ژوندانه یوه کیسه بیانوي. ټولنیز ژوند د وګړو او یا د وګړو د ډلو ترمنځ د ګډو هڅو سرته رسولو ته وایـي، چـې د ځینو اړتیاوو د لیرې کولو له امله په بېلابېلو وختونو او د ځانګړو دلیلونو له مخـې هغې سره مخامخ کیږي. ټولنیز ژوند په یوازې توګـه پرمخ نه وړل کیږي. ددې کار لپاره د نورو انسانانو شته والي ته اړتیا ده. موږ باید له نورو انسانانو سره ښې او دوستانه اړیکې ولرو. په لاندې انځورونو کې دغه اړیکې په ښـــه توګه څرګندې شوي دي.



د چرګو له ښبنتن څخه د هګیو اخیستل



د چرګوښبنتن خپلو چرګوته د دانو اچولو په حال کي



د یوې کورنۍ غړي د هګیو د خوړلو په حال کې



د کور یوه میرمن د هګیو د پخولو په حال کې

(c) ketabton.com: The Digital Library




د زده کوونکو هره ډله دې د ټولنیز ژوندانه د ښېګڼو په هکله، دوې، دوې جملې ولیکي او په ټولګي کې دې ولولي.

..........................................................

..........................................................

## پوښتنې:

- ټولنیز ژوند څه ډول ژوندانه ته ویل کیږي؟
- ټولنیز ژوندانه ته څه وخت اړتیا پیداکیږي؟
- د واده د مراسمو تر سره کولو ته ټولنیز ژوند ویلای شو؟

**له ټولګي څخه د باندې فعالیت:**

زده کوونکي دې د استوګنې په خپل چاپیریال کې د رسم او رواجونو په اړوند، چې د ټولنیز ژوندانه یوه برخه ده، یولنډ مطلب ولیکي او سباته دې هغه په خپل ټولګي کې نورو ټولګیوالو ته ولولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دویم لوست

# کورنۍ

**موخه:**

- زده کوونکي دې له کورنۍ سره بلد شي.

- کورنۍ څه وخت جوړیږي؟
- د کورنۍ د غړو شمېر څه وخت زیاتیږي؟

له لاندې لغتونو سره بلد شئ:

| ترینده | تروږگانې |
|---|---|
| دنده | وظیفه |
| بېلگه | نمونه، مثال |
| نیا | انا |



د یوې کورنۍ د غړو عکس

کورنۍ د ښځې او نارینه ترمنځ د واده په کولو جوړیږي. د کوچني په پیدا کیدو سره د کورنۍ د غړو شمېر زیاتیږي. د ماشومانو په زیږیدو دکورنۍ خوشحالي زیاتېږي. په ځینو کورنیو کې نیکونه، نیاگانې، ترونه او ترینده هم له هغوی سره یوځای اوسیږي چې هغوی هم د کورنۍ غړي گڼل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




د تیر مخ په انځور کې څه شیان او څوک وینئ د هغوی نومونه ولیکئ.

..................................................

..................................................

..................................................

## پوښتنې:

- آیا ستاسې نیکه او نیا له تاسو سره اوسیږي؟
- تاسې له خپل نیکه او نیا سره څه ډول ګوزاره کوئ؟ ولې؟
- کورنۍ د............ او ............ په واده کولو جوړیږي.
- د ماشومانو........ کورنۍ ته .......... ور په برخه کوي.

### له ټولګي څخه د باندې فعالیت:

زده کوونکي دې د خپلې کورنۍ د غړو لست د هغوی له دندو سره جوړ کړي، ټولګي ته دې راوړي او خپلو ټولګیوالو ته دې وښیي. د بېلګې په توګه:

مور مې ښوونکې ده. د سهار له ۹ بجو څخه د غرمې تر ۱۲ بجو پورې په ښوونځي کې درس ورکوي.

..................................................................

..................................................................

..................................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library

دریم لوست

# د کورنۍ ارزښت او ډولونه

**موخې:**
- زده‌کوونکي دې د کورنۍ د ارزښت او د هغې له ډولونـــو ســـره پېژندګلوي پیدا کړي.
- زده کوونکي باید له خپلې کورنۍ سره مینه پیدا کړي.

له لاندې لغتونو سره بلد شئ:

| | |
|---|---|
| اړتیا | ضرورت |
| غړی | عضو |
| هوساینه | آرامي |
| روزنه | تربیه |
| زیار | کوښښ |
| میشته کېدل | استوګنه |
| بوخت | لګیا |

- کورنۍ څه ارزښت لري؟
- کورنۍ د څه هدف لپاره منځ ته راځي؟



د کورنۍ جوړښت یوه ټولنیزه اړتیا او یو اسلامي امر دی. موږ د خپل ژوندانه د دوام لپاره ډول ډول شیانوته اړتیا لرو. د کورنۍ غړی د هغو په برابرولو کې په زړه پورې ارزښت لـــري. ستاسې په کورنۍ کې څوک ستاسې اړتیاوې پوره کوي؟


مور او پلار په ډېره مینه او سرښندنه زموږ په هوساینه او روزنه کې زیار باسي. دوی زموږ لپاره خواړه، کور او کالي برابروي او زموږ د کړو وړو څارنه کوي. کله چې ناروغ شو ډاکټر ته مو بیایي. کله چې د ښوونځي عمر ته ورسیږو، په ښوونځي کې مو شاملوي.


موږ هم د کورنۍ په چاروکې ګډون کوو او د خپلې کورنۍ ټول غړي راباندې ګران دي.

په هغو کورنیو کې چې پلرونه یې مړه شوي وي، میندې، د کورنۍ مشران زامن او لوڼې د خپلې کورنۍ اړتیاوې پوره کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تاسې څو ډوله کورنۍ پېژنئ؟


کليوالي ژوند


د کوچيانو ژوند


ښاري کورنۍ

کورنۍ د استوګنې د چاپېريال له مخې بېلابېل دودونه او رواجونه لري. د بېلګې په توګه د کوچيانو کورنۍ له کليوالی کورنۍ سره او کليوالي کورنۍ له ښاري کورنۍ سره د جامو پــه اغوستلو، د کور په جوړولو، د ډوډۍ په تيارولو اوخوړلو او د ژوند په څرنګوالي کې توپيرونه لري. همدارنګه ځينې کورنۍ زيات شمير غړي او ځينې لږ شمير غړي لري.


لويه کورنۍ


وړه کورنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library




د خپلې کورنۍ په هکله فکر وکړئ او بیا وواياست
چې ستاسې کورنۍ په اووم مخ کې له انځور شوو
کومو کورنیو سره ورته والي لري.

## پوښتنې:

١– ستاسې د کورنۍ شمیر زیات دی که لږ؟

٢– ستاسې پلار څه کار کوي؟

٣- آیا ستاسې په ګاونډ کې داسې کورنۍ شته چې اړتیاوې یې میندې پوره کوي؟ که هو، نو ولې؟

### له ټولګي څخه د باندې فعالیت:

زده کوونکي دې د کورنیو ترمنځ د توپیرونو په هکله له مشرانو څخه وپوښتي او خپل تر لاسه کړي معلومات دې سبا ټولګیوالو ته ووايي.

شلورم لوست

# د کورنۍ د غړو دندې

موخې:

- زده کوونکي دې د کورنۍ د غړو له دندو سره پېژندګلوي پيدا کړي.
- زده کوونکی دې د کورنۍ ژوندانه په مسؤوليتونو کې برخه واخيستلای شي.

له لاندې لغتونو سره بلد شئ

| | |
|---|---|
| مسؤوليتونه | وظيفې، دندې |
| پرته | بېله |
| کرنه | بزګري |
| غونډول | ټولول |
| ضايع | له لاسه ورکول |
| مهال ويش | تقسيم اوقات |
| ځانګړې | خاص، ځانګړې |
| ګډون | اشتراک، برخه اخيستل |

- - تاسې د درس له لوستلو پرته کومې دندې سرته رسوئ؟
- خپل ورځني کارونه څنګه سرته رسوئ؟

**هرڅوک يوه دنده لري.**

پلار معمولاً له کور څخه د باندې کار کوي. هغه دنده لري چې د خپلې ښځې او اولادونو لپاره کور، خواړه، کالي او د ژوندانه نورې اړتياوې برابرې کړي. په ځينو کورنيو کې ښځې دکور په کارونو لکه، جامو پرمينځلو، د کور پاکولو او د ډوډۍ پخولو پرته له کور څخه د باندې هم کارکوي. د بېلګې په توګه ښځې په کليو کې د کرنې په چارو، د حاصلاتو په راغونډولو، د غواوو په لوشلو او په غالۍ اوبدلو کې د خپلې کورنۍ له غړو سره مرسته کوي.



د کورنۍ غړي د کارکولو په حال کې

په ښارونو کې يو شمېر ښځې په ښوونځيو، روغتونونو، کارخانو او دولتي ادارو کې هم کارکوي.



ښځه د حاصلاتو د راغونډولو په حال کې

اولادونه سربېره په درس ويلو له خپل مور او پلار سره هم مرسته کوي. هغه ماشومان چې په



SS(P)0407

(c) ketabton.com: The Digital Library

کورنۍ کې د مینې او مهربانۍ، روزنې او ښو کړو وړو څخه برخمن او په راتلونکې ژوند کـــې به ګټور اوپه زړه پورې کسان ترې جوړ شي.

**هرشی ځانته یو ټاکلی ځای لري.**

په کور کې هرشی یو ټاکلی ځای لري. ستاسې په نظر ولې په کور کې باید بوټونه، کـــالي، کتابونه او نورشیان په ټاکلي ځای کې کېښودل شي؟ ددې لپاره چې یوه بانظمه کورنۍ واوسو او د اړتیا وړ شی د وخت له لاسه ورکولو پرته په آسانه پیداکړو نو هر شی باید په خپل ټاکلي ځای کې کېښودل شي.

**هرکار ځانته یو ځانګړی وخت لري**

ورځې د کار او شپې د خوب او استراحت لپاره دي. درس ویل، لمونځ کول، بیده کېـــدل، تفـــریح کـــول، سپورت کول، د دوستانو لیدل او داسې نور هر یو پـــه خپل ټاکلي وخت کې ترسره کېږي.

د شنبې له ورځې څخه د پنجشنبې تر ورځې پورې دکار ورځې دي. د جمعې په ورځ کار نه کوو او د جمعـــې ورځ د جمعې په لمانځه کې د ګډون، د دوستانو د لیدو او د ناروغانو د پوښتنې ورځ ده.



زده کوونکی دکتاب لټولو په حال کې



زده کوونکی د سپورت کولو په حال کې



زده کوونکی د لیکلو په وخت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مورږ باید په ژوندانه کې سمون راولو، یعنې:

| | | |
|---|---|---|
| خپله دنده وپېژنو او په هغې باندې عمل وکړو. | هرشی په خپل ټاکلي ځای کې کېښېږدو. | هرکار په خپل ټاکلي وخت کې سرته ورسوو. |

## د ټولګي دننه فعالیت



- د ټولګي زده کوونکي دې په څو ډلو ووېشل شـــي. هره ډله دې خپل ورځنې کارونه لست کړي.
- د زده کوونکو هره ډله دې د خپلو ورځنیو کارونو د سرته رسولو لپاره یو مهال ویش ولري.

## پوښتنې:

١ــ تاسې په کورني ژوندانه کې کومې دندې لرئ؟

٢ــ د جمعې ورځ د کومو کارونو لپاره ده؟

٣ــ له دود سره سم پلار او مور په کورنۍ کې کوم کارونه سرته رسوي؟

### له ټولګي څخه د باندې فعالیت:

د خپل مور او پلار په مرسته په کورني ژوندانه کې د نظم ټینګښت لپاره د هرچا دنده، د هرشي لپاره ځای او د هرکار لپاره ټاکلي وخت وټاکئ، د بېلګې په توګه:

- پلار مې ښوونکی دی. له سهار څخه تر غرمې پورې په خپله دنده کې بوخت وي. له هغې وروسته دکور په چارو کې برخه اخلي.
- ..........................................................................
- ..........................................................................
- ..........................................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځم لوست

# دويم څپرکی

## ښوونځی

### د ښوونځي اوښووني او روزنې ارزښت

موخې:

- زده‌کوونکي دې ښوونځي او د هغه ارزښت وپيژني.
- زده کوونکي بايد له ښوونځي سره مينه پيداکړي.

له لاندې لغتونه سره بلد شئ:

| | |
|---|---|
| بنسټ | تهداب، اساس |
| فرهنګ | علم، پوهه، د يو قوم او ولس علمي او ادبي آثار |
| شموليت | شامليدل |
| داخليدل | ننوتل، ګډون کول |
| چمتو | تيار، آماده |

- ښوونځي او ښوونه اوروزنه زموږ په ژوند کې څه ارزښت لري؟
- ښوونځي ته له راتلو څخه ستاسې هدف څه دی؟
- که ښوونځي ته لاړ نشئ، څه کېږي؟





ښوونځی د پوهې، ښو اخلاقو او د ژوند د مهارتونو د زده کړې ځای دی. موږ په ښوونځي کې ليک، لوست او پوهه زده کوو. د ښووني او روزنې بنسټيزه موخه د زده کوونکو روزل او د ښه ژوند کولو لپاره چمتو کول دي، چې وکړای شي له دې لارې څخه د خپل ځان، خپل خالق، خپلو اسلامي دندو، دين او فرهنګ په پيژندلو بريالی شي او د نړۍ پرمختګونه وپيژني.

(c) ketabton.com: The Digital Library




د ښوونځي په لوستلو سره موږ لاندې ګټې لاس ته راوړو.

..................................................

..................................................

..................................................

## پوښتنې:

۱– آیا په ښوونځي کې له خپل شمولیت څخه خوښ یاست؟ که هو، نو ولې؟

۲– د نړۍ اوسني پرمختګونه له کومې لارې لاس ته راغلي دي؟

۳– تاسي دڅه لپاره د پوهې په زده کړه کې کوښښ کوئ؟

۴– آیا خپل ښوونکی او ښوونځی درباندې ګران دی؟ که هو، نو ولې؟

**له ټولګي څخه د باندې فعالیت:**

د مشرانو په مرسته د هغو کسانو نومونه ولیکئ، چې یو وخت ستاسې له ښوونځي څخه فارغ شوي دي او نن د هېواد خدمتګاران ګڼل کېږي. یا د هېواد د څو پوهانو نومونه ولیکئ او بیا یې خپلو ټولګیوالو ته ولولئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږم لوست

# د ښوونځي د غړو دندې

موخې:

- زده کوونکی دې په ښوونځي کې خپلې دندې وپېژني.
- په زده کوونکو کې دې د ښوونځي مقرراتو ته د درناوی روحیه پیاوړې شي.
- زده کوونکی دې د ښوونځي په چارو کې برخه واخلي.

له لاندې لغتونو سره بلد شئ:

| | |
|---|---|
| مقررات | اصول، منلي شوي لارې چارې |
| روحیه | مفکوره، فکر |
| پرتله | مقایسه کول |
| ځنډ | معطلي، وخت نیول |
| سمون | برابرول، سمول |
| مقام | دریځ– چارواکی |
| توکي | مواد، شیان |
| ازموینه | ازمايښت، امتحان |
| ژغورل | ساتل، نجات ورکول |
| سمسورتیا | ښکلا، آبادي، سرسبزي |


- تاسې په ښوونځي کې په څه ډول کارونو کې برخه اخلئ؟
- څوک ستاسې په ښوونځی کې د نورو په پرتله په کارونو کې زیات کوښښ کوي؟




د ښوونځي مدیر له زده کوونکو سره د لیدنې په حال کې



د ښوونکو مجلس د چارو د سمون په اړه



زده کوونکي د زده کړې په حالت کې



ملازم د پاکي اوصفايي په حالت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهیږو چې یو ماشین یا یو ساعت له بېلو بېلو پرزو څخه جوړ شوي او هره پرزه یې یوه ځانګړې دنده لري. که چېرې له دغو پرزو څخه کومه یوه یې خپله دنده په ښه توګه سرته ونه رسوي، د نورو پرزو په دندوکې هم خنډ را منځته کېږي. په همدې توګه د ښوونځي غړي هم هر یو خپله ورسپارل شوې دنده اجرا کوي. د بېلګې په توګه، د ښوونځي د مدیر دنده د نورو په پرتله درنه ده. د ښوونځي او د شاوخوا سیمو د خلکو او لوړو چارواکو ترمنځ د اړیکو ټینګول، په ښوونځي کې د نظم راوستل، د ښوونځي د چارو د سمون په موخه د غونډو جوړول او داسې نورې دندې په غاړه لري.

د ښوونځي د مرستیالانو او سرښوونکو دندې د مدیرانو د نشتوالي په صورت کې د هغوی د دندو تر سره کول، د ښوونځي سرپرستي کول، د لوست د مهال وېش جوړول، د لوست له توکو، د سوبتیا او ترقي تعلیم د کتابونو برابرول او داسي نورو څخه عبارت دي.

د ښوونکو دنده ټولګي ته په وخت راتګ، د زده کوونکو د احوال پوښتنه او د هغوی کورني حالت باندې پوهېدل، د لوست لپاره تیاری او د زده کوونکو پوښتنوته ځواب ورکول او د هغوی سمو اوښو روزلو څخه عبارت ده.


ملازمین د ښوونځي د پاک ساتلو دنده په غاړه لري.

زده کوونکي دنده لري چې په خپل وخت ښوونځي ته راشي. دوی باید په خپلو درسونو کې زیار وباسي. زده کوونکي باید د خپلو ښوونکو خبروته غوږ ونیسي. زده کوونکي دې له ناسوبتیا څخه په ځانګړې توګه د آزموینې په ورځو کې ځان وژغوری. زده کوونکي دې په خپل سر له ټولګي څخه بهر و نه وځي. دوی باید د خپل ښوونځي د سمسورتیا په چاروکې برخه واخلي.

زده کوونکي باید د ښوونځي د چارواکو له خوا ورسپارل شوې دندې په سم ډول سرته ورسوي، چې ښوونځی مو لا نور هم ښه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د ټولګي دننه فعالیت**



په ټولګي کې د زده کوونکو دندې په لاندې ډول دي:

په خپل وخت ټولګي ته راشي.

........................................................

........................................................

## پوښتنې:

۱ــ په ښوونځي کې د زده‌کوونکو دندې کومې دي؟

۲ــ د ښوونځي په چارو کې برخه اخېستل څه ګټه لري؟

۳ــ که چېرې چارې په ښه توګه تر سره نه شي، څه به پېښ شي؟

**له ټولګي څخه د باندې فعالیت:**

د ښوونځي د مدیر د دندو په هکله یو مطلب برابر کړئ؟

........................................................

........................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library

اووم لوست

# د ښوونځي، ښوونې او روزنې تاريخ

موخه:

- زده کوونکي دې په هېواد کې د ښوونځي، ښوونې او روزنې له تاريخ سره آشنا شي.

له لاندې لغتونو سره بلد شئ:


| | |
|---|---|
| هېواد | مملکت |
| نظامي | پوځي |
| پرمختګ | ترقي |
| پرانيستل | پېرته کول، افتتاح کول |

- په پخوا زمانو کې زموږ په هېواد کې ښوونه او روزنه څه ډول وه؟
- زده کوونکو ته څه ډول درس ورکول کېده؟

زموږ په ګران هېواد افغانستان کې د کوچنيانو ښوونه او روزنه له ډېر پخوا څخه دود وه. کوچنيانو ته به په جوماتونو او د دوی په کورونو کې زده کړه کېده. لوستل او ليکل به يې زده‌کول.



ټولګی تر ونې لاندې د سبق ويلو په حال کې



ملا په جومات کې يو ماشوم ته لوست ور زده کوي



د ننني ټولګی د لوست يوه منظره



ننني ښوونځی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د رسمي پوهنې بنسټ د امیر شیر علي خان[۱] د پاچهۍ په وخت کې د دوو ښوونځیو په جوړېدو سره کېښودل شو، چې یویې ملکي او بل یې پوځي و. له هغه وروسته لومړنی عصري ښوونځی د (حبیبیې لیسه) وه چې دامیر حبیب الله خان په وخت کې[۲] تاسیس شوه.

د امیر امان الله خان په وخت کې[۳] په افغانستان کې ښوونې او روزنې ښه پرمختګ وکړ. د نارینه وو په عصري ښوونځیو سربېره یو ښځینه ښوونځی د (مستورات) په نامه په کابل کې پرانیستل شو. د حبیب الله کلکاني په وخت کې ښوونځي وتړل شول. وروسته بیا د محمد نادرخان په وخت کې د ښوونځیو دروازې بیا د زده‌کوونکو پر مخ پرانیستل شوې او د محمدظاهر خان په وخت کې یې زیات پرمختګ وکړ.

د وخت په تیرېدو او زمونږ په هېواد کې د بدلونونو په رامنځته کیدو د پوهنې په سیستم کې زیات بدلونونه راغلل او د نړۍ د ښوونې له کاروان څخه وروسته پاتې شو. په هېواد کې د ډېرو تحولاتو او نوی تعلیمي نصاب په جوړېدو اوس زمونږ د ښوونې او روزنې سیستم د غوړېدو په حال کې دی.

**د ټولګي دننه فعالیت**



د لوست غوره مطلبونه په لنډه توګه په څو کرښو کې ولیکئ.

.............................................

.............................................

.............................................

## پوښتنې:

**۱ـ** پخوا زمونږ په هېواد کې ښوونه او روزنه په څه ډول ترسره کېده؟

**۲ـ** د حبیبیې لیسه د کوم پاچا په وخت کې پرانیستل شوې ده؟

**۳ـ** د لومړي ځل لپاره ښځینه ښوونځی د چا په وخت کې او په کوم ځای کې پرانیستل شو؟

**له ټولګي څخه د باندې فعالیت:**

د لویانو په مرسته د هغو کسانو نومونه ولیکئ او په ټولګي کې یې ولولئ چې ستاسې له ښوونځي سره یې ډول ډول مرستې کړې دي.

---

۱- (امیر شیر علي خان له ۱۲۴۲- ۱۲۵۷هــ.ق پورې د افغانستان پاچا و.)

۲- (امیر حبیب الله خان له ۱۲۸۰- ۱۲۹۸هــ.ق پورې د افغانستان پاچا و.)

۳- (امیر امان الله خان له ۱۲۹۸- ۱۳۰۸هــ.ق پورې د افغانستان پاچا و.)

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتم لوست

# دریم څپرکی

## کلی

## په کلي کې استوګنه

موخه:

- زده کوونکي دې په کلي کې له ژوند کولو سره آشنا شي.

- په کلي کې د ژوند کولو په هکله څه پوهیږي؟
- په کلي کې ژوند په څه ډول سره منځ ته راغلی دی؟

له لاندې لغتونو سره بلد شئ

| | |
|---|---|
| ګواښ | تهدید |
| واک | اختیار |
| څرځای | د څارویو د څرولو ځای |
| استوګنځي | د اوسیدو ځای، کور |
| داړونکي | ځیري کوونکي، ځناور |
| څاروي | حیوانات |

پخوا زمانو کې خلکو له دې څخه مخکې چې په کلو کې ژوند پیل کړي، د کوچیانو په څېر ژوند کاوه. دغه ژوند، چې په غرونو او سوځوونکو دښتو کې تېریده، له ستونزو ډک و.


وچکالیو او د هوا ناڅاپي بدلونونو به څرځایونه له منځه وړل. دې کار به خلک په وېره کې اچول او د دوی ژوند به یې له ګواښ سره مخامخ کاوه.

د همدې ستونزو له امله هغوی داسې وپتیېله، په داسې ځایونو کې د تل لپاره پاتې شي، چې هلته اوبه وي.

د اوبو تر څنګ ژوند پیلول د ژوند اړتیا وه. دغه ژوند هغوی ته څه ګټه رسوله او په پای کې یې څه وکړل؟



د کوچیانو د ژوند انځور



د کلیوالي ژوندون انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې نوي ژوند له پیل څخه وروسته هغوی دکال په اوړدو کې اوبه درلودې او هم به یې له هغو ځړ ځایونو څخه چې د دایمي اوبو تر څنګ پراته و، ګټه اخیستله. له دې وروسته یې له یو ځای څخه بل ځای ته د کوچېدو پر ځای په هغو ځایونو کې کلیوالی ژوند پیل کړ، چې تر څنګ یې د سیندونو او چینو په څیر د اوبو دایمي سر چیني پرتې وې. وروسته یې کرار، کرار د شاوخوا سیمو د لاندې کولو په موخه هغوی ته لاسونه ور وغځول او لاندې یې کړې. له دې وروسته یې د موسم په بدلیدو سره خپل ځایونه نه بدلول، ځکه هغه کورونه چې له ډبرو، خټو او لرګیو څخه یې جوړول دوی یې له ګرمۍ سړو او ځناورو څخه ساتل.




د لوست غوره مطلبونه په لنډه توګه په دوو کرښو کې ولیکئ.

..............................................

..............................................

## پوښتنې:

۱ــ کوچیان ولې له یو ځای څخه بل ځای ته درومي؟

۲ــ د کلیو د منځته راتلو لاملونه وواییئ.

۳ــ کلیوالي ژوند د کوچیانو له ژوند سره څه توپیر لري؟

له ټولګي څخه د باندې فعالیت:

د خپل کلي د جوړېدو په هکله له مشرانو څخه معلومات تر لاسه کړئ او بیا یې خپلو ټولګیوالو ته ولولئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نهم لوست


# د کليوالو کسبونه او لاسي کارونه

له لاندې لغتونو سره بلد شئ:

| | |
|---|---|
| بوخت | لګيا مصروف، مشغول |
| پياوړی | غښتلی، قوي، ټينګ، کلک، محکم |

موخې:
- زده کوونکو ته دې کليوالي کسبونه او لاسي کارونه ور وپېژندل شي.
- زده کوونکی دې د کليوالي کسبونو او لاسي کارونو له اقتصادي ارزښت سره مينه او اړيکې پيدا کړي.

- په کلي کې څه ډول کسبونه او لاسي کارونه دود لري؟
- د کليوالي کسبګرو څه ډول توليدات د کلي د اوسېدونکو اړتياوې پوره کولای شي؟



تار وريښل

د کليو اوسيدونکي زياتره د بزګرۍ په چارو بوخت وي، خو د هغې تر څنګ ځنې کسان د خپلو کليوالو د ستونزو او اړتياوو د ليرې کولو لپاره ځنې ځانګړي کسبونه او لاسي کارونه سرته رسوي، لکه: پينګـري، ترکاڼي، کولالي، خټګـري، ټټاري، زرګـري، حلبي سازي، پوزي اوبدل، غالۍ اوبدل، ټغر او سترنجۍ اوبدل، شال اوبـدل، لـونګۍ اوبدل، جاکټ اوبدل، خامک ګنډل، چرمه ګنډل او داسې نور.



غالۍ اوبدل

درانه کسبونه، لکه: پينګري، خټګـري، ترکاڼي او داسې نور د نارينه وو کـار دی، په داسې حال کې چې لاسي کارونه، لکـه خامک ګنډل، چرمه ګنـډل او داسې نـور زياتره د ښځو په واسطه تر سره کيږي. په دې ډلې کې غالۍ، ټغر او د خامک ګنـډنې ځينې ټوټې د هېواد د صادراتو يوه مهمـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

برخه جوړوي.

آيا کليوالي کسبګر د کليوالو ټولي اړتياوې پوره کولای شي؟ که د کليوالو اړتياوې په خپل کلي کې ترسره نشي نوځه کوي؟ د کليوالو کسبګرو توليد ډېر لږ او ساده وي او د خپلو کليوالو ټولې اړتياوې نشي پوره کولی. له دې کبله د کلو خلک خپلې اړتياوې له خپلو نږدې بازارونو څخه پوره کوي.



پښ د کار په حال کې

دټولګي دننه فعاليت

- د لوست غوره مطلبونه په لنډه توګه ووایاست. د بيلګې په توګه:
- د کلو زياتره اوسيدونکي د بزګرۍ په چارو بوخت وي.
- .......................................................
- .......................................................

## پوښتنې:

۱- د لاسي کارونو کوم ډول توليدات د هېواد د صادراتو مهمه برخه جوړوي؟

۲- ښځې په کوم ډول کليوالي کسبونو او لاسي چارو کې برخه اخلې؟

۳- د کلو نارينه په کوم ډول کسبونو کې بوخت وي؟

له ټولګي د باندې فعاليت:

د لويانو په مرسته دکليوالي کسبونو او لاسي چارو ګټې وليکئ. د مثال په توګه:

- کورني اقتصاد پياوړی کوي.
- .......................................................
- .......................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library

لسم لوست

# کلي او کرنه

موخې:

- زده کوونکي دې له کرنې سره آشنا شي.
- زده کوونکي دې د کلي د کرنې پيداوار يو له بله سره بېل کړای شي.
- زده کوونکي دې له کرنې سره مينه پيداکړي.

له لاندې لغتونو سره بلد شئ:

| | |
|---|---|
| غوره کول | خوښول، انتخابول، ټاکل |
| پيل | شروع کول |
| پاملرنه | فکر کول، توجه کول |
| لړ | سلسله |

- ستاسې د استوګنې په ځای کې د کرنې کوم ډول پيداوار (محصولات) ډېر دي؟
- آيا تاسې د کرنې په چاروکې له خپلې کورنۍ سره مرسته کوئ؟



د ځمکې يوې کول

هغه شی چې تر نورو د مخه د کليـــوالي ژوند د غوره کولو او ښه کيدو لامل شـــو، د کرنې پيل و. انسانان د بوټو او ونو د شـــنه کيدو ځرنګوالي ته په پـــاملرنې او د ښــې او مناسبې خاورې لرلو له امله په دې وپوهېـدل چې د تخمونو په کرلو او اوبه کولو کولی شي خپل ځانته خواړه برابر کړي. په کرنې باندې په بوختېدو يې وکړای شول چې زيات حاصلات لاس ته راوړي.



د غنمو ريبل ( غنم لو)

ستاسو په کلي کې څه څه شيان کرل کيږي؟

زموږ د هېواد بېلابېل ځايونه بېلابېله آب هوا لري. له دې امله کرنيز محصولات يې هم بېلابېل دي. په کلو کــې پــر بزګرانـو سربېره، ښځې او نارينه هم له هغوی سره د کرنې په چارو کې مرسته کوي.

زموږ د هېواد غلې، سابه، مېوې او نـــور بوټي په لاندې ډول دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱. غلې لکه: غنم، وريجې، وربشې او جوار
۲. حبوبات لکه: لوبيا، چنې (نخود) مشنګ، باقلي او مۍ (ماش)
۳. غوړلرونکي تخمونه لکه: پندانه (پنبه دانه)، کونځلې، زغر، شړشم او لمر ګلي
۴. طبي بوټي لکه: هنجه، باديان او خوږه ولې
۵. خواږه بوټي لکه: ګني، چغندر
٦. تازه مېوې لکه: انګور، زردآلو، ګيلاس، آلوبالو، شفتالو، توت، منې، ناک، انار، خټکي، هندوانه، مالته، نارنج او ليمو.
۷. وچې ميوې، لکه: بادام، پسته، غوز، اوجلغوزي.
۸. د سبو ډولونه لکه: بانجان، باټينګر، کدو، هوږه، پياز، مرچ، کچالو او داسې نور.

پر پورتنيو کرنيزو محصولاتو سربېره د هېواد په ځينو ولايتونو کې يولړ ځنګلونه هم شته چې له ميوو او لرګيو څخه يې ګټه اخېستل کېږي.

وچې او تازه مېوې او ځينې طبي بوټي بهرنيو هېوادونو ته لېږل کېږي چې د هېواد د صادراتو مهمه برخه جوړوي.













(c) ketabton.com: The Digital Library

دټولګي دننه
فعالیت



د زده کوونکو هره ډله دې د خپلې سیمې کرنیــز محــصولات ولیکي.

.....................................................

.....................................................

## پوښتنې:

۱. ستاسې د اوسیدو په ځای کې کوم ډول بوټي او مېوې زیات اقتصادي ارزښت لري؟
۲. کرنه زموږ په کورني ژوندانه کې څه ارزښت لري؟
۳. ولې د یوې سیمې کرنیز حاصلات د بلې سیمې له کرنیزو حاصلاتو سره توپیر لري؟

له ټولګي څخه د باندې فعالیت:

زده کوونکي دې د ښوونځي او یا د کور د انګړ په یوې برخې کې ښکلي ګلان وکري.

زده کوونکي دې د مور او پلار په مرسته د طبي بوټو نومونه ولیکي.

.....................................................

.....................................................

.....................................................

SS(P)0407

(c) ketabton.com: The Digital Library

یولسم لوست

# کلی او څاروي


موخې:

- زده کوونکي دې له مالدارۍ سره آشنا شي.
- زده کوونکي دې د څارويو د روزلو لارې چارې زده کړي.

له لاندې لغتونو سره بلد شئ:

| | |
|---|---|
| وس | توان، طاقت |
| اهلي | هغه څاروي چې په کورونو کې روزل کیږي |
| ډله | ګروپ |

- په کلي کې څه ډول کورني حیوانات روزل او ساتل کیږي؟
- په کلو کې څوک د مالدارۍ له حاصلاتو څخه ګټه اخلي؟



مالداري اصلاً د کوچیانو دنــده ده، خو دکلو اوسیدونکي هم د اړتیا له مخــې ځینې اهلي څاروي لکه، غواوې، غوایان، اوښان، پسونه، مېږې، وزې، آسان، خره او کچرې د خپل وس او اړتیا پـــه انــدازه ساتي. څرنګه چې د اهلي څـــارویو روزل اوساتل له کلیوالو سره د هغوی د اقتصاد په پیاوړتیا کې مرسته کوي، له دې امله د هغوی لـــه ساتنې سره مینه لري.



د کلیو خلک ولې اهلي څاروي ساتي؟

هغسې چې د کلي د ژوندانــه کچــه د ښارونو د ژوندانه د کچې په پرتله ډېره ټیټه ده او د ژوندانه اړتیاوې یې په آسانۍ سره نه پوره کېږي، له همـــدې کبلـــه د کلـــو د اوسیدونکي د خپلو اړتیاو د پوره کولو لپاره یو شمېر لاندیني اهلي څاروي روزي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه آس، غويي او خر د بارونو په وړلو راوړلو او د کروندې په يوې کولو کې ورڅخه کار اخېستل کيږي.



د څينو محــصولاتو څخــه لکــه، شــيدې، وړۍ، پوستکي او غوښې ګټه اخلي.

د مالدارۍ محصولات، لکه پينبه (د قــره قلــۍ پوستکي)، وړۍ، د څارويو پوستکي، پردې سربېره چې د هېواد په دننه کې ترې ګټه اخېستل کېږي، بهر ته هم صادرېږي او د هېواد د صادراتو مهمه برخه جوړوي.

د ټولګي
دننه فعاليت

ټـولګي دې په ډلو ووېشل شي، هره ډله دې د خــپلې ســيمې د مالدارۍ محصولات وليکي.

..................................................

..................................................

## پوښتنې:

۱. ستاسې د کلي د مالدارۍ له محصولاتو څخه کوم شيان بهر ته لېږل کېږي؟
۲. ستاسې د سيمې د مالدارۍ له محصولاتو څخه کوم يو يې يوازې ستاسې په کلــي کــې کارول کېږي؟
۳. اهلي څاروي د څه شي لپاره روزل کيږي؟

له ټولګي څخه د باندې فعاليت:

زده کوونکي دې د خپل مور او پلار په مرسته د مالدارۍ ګټې وليکي، د مثال په توګه:

د هغوی له محصولاتو څخه لکه: شيدې، کوچ، او مستې، ګټه اخيستل کيږي.

..........................................................................

..........................................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library

دولسم لوست

# څلورم څپرکی

## ښار

## ښاري ژوند

موخه:
زده کوونکي دې له ښاري ژوند سره بلد شي.

د لاندې لغتونو سره بلد شئ:

| پرتله | مقایسه کول |
|---|---|
| پوړ | منزل |
| توپیر | فرق |
| لګیا | بوخت |
| واټن | فاصله |

- د ښاري ژوند په هکله څه معلومات لرئ؟
- ښاري او کلیوالي ژوند یو له بل سره څه توپیرونه لري؟

په ښارونو کې زیات شمېر خلک ژوند کوي. د ښارونو ګڼه ګوڼه د کلو په پرتله زیاته ده. په ښار کې دولتي ادارې، روغتونونه، ښوونځي او مدرسې وي او په کلو کې زیاتره خلک په کرنه او مالدارۍ لګیا وي.



د کابل ښار انځور



د هرات ښار انځور

د ښار زیاتره اوسیدونکي په کارخانو، هټیو او دولتي ادارو کې په کار بوخت وي. په ښار کې د کورونو او د کار ځایونو ترمنځ واټن زیات وي. ځینې خلک د تګ او

(c) ketabton.com: The Digital Library

راتګ په وخت کې له ترانسپورتي وسایطو، لکه موټر، موټر سایکل، بایسیکل او نورو څخه کار اخلي.




د ټولګي زده کوونکي په څو برخو ووېشئ. د زده کوونکو هره برخه دې د ښار د ښېګنو په هکله معلومات چمتو او په ټولګي کې دې یې بیان کړي.

- .......................................
- .......................................

## پوښتنې:

۱_ ولې په ښار کې د کلیو په پرتله ګڼه ګوڼه زیاته وي؟

۲_ ولې په کلیو کې د ښارونو په پرتله کرنه زیاته وي؟

۳_ ولې په ښارونو کې څو پوړیزه ودانۍ زیاتې جوړېږي؟

له ټولګي څخه د باندې فعالیت:

زده کوونکي دې د کورنۍ په مرسته د ښار او ښاروالۍ د کار کوونکو دندې په ګوته کړي.

- .......................................
- .......................................

(c) ketabton.com: The Digital Library

دیارلسم لوست

# ښاري کسبونه

| موخه: |
| --- |
| زده کوونکي دې ښاری کسبونه وپېژني. |

له لاندې لغتونو سره بلد شئ:

| | |
| --- | --- |
| ګومارل | بوختول، مشغولول، ټاکل، مقررول |
| بوخت | لګیا، مصروف |

- ستاسې پلار په څه کسب اوکار بوخت دی؟
- په ښار کې څه ډول کسبونه شته؟

په ښارونو کې زیات شمېر خلک ژوند کوي. په ښار کې هر ډول کسبونه، لکه: پېنګري، مسګري، زرګري، خټګري، ترکاني، کولالي، خیاطي او داسې نور شته.



کله چې موږ ښارته لاړ شو، هلته د انسانانو په لاس جوړ شوي ډول ډول شیان ګورو. لکه، موټر، موټر سایکل، بایسیکل، راډیو، تلویزیون، بېلابېل ټوکران، د کور سامان او داسې نور. یو زیات شمېر خلک په دې کارونو ګومارل شوي دي. د ښار نور اوسېدونکي په نورو کارونو لکه: طبابت، دوکانداری، ماموریت ښوونه او روزنه بوخت دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




د ټولګي زده کوونکي په څو برخو وويشئ. هره برخه دې د ښار د يو کسب په هکله معلومات ورکړي.

- ........................................................
- ........................................................

## پوښتنې:

۱_ پښان د خلکو د اړتياوو لپاره څه شيان جوړوي؟

۲_ د ترکاڼۍ په هکله معلومات ورکړئ.

۳_ د ښاري کسبونو نمونه واخلئ.

### له ټولګي څخه بهر فعاليت:

زده کوونکي دې د خپلې کورنۍ په مرسته هغه کسبونه چې د دوی په سيمه کې موجود دي، وليکي او په ټولګي کې دې يې ولولي.

- ........................................................
- ........................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوارلسم لوست

# ترافيکي مقررات

**موخه:**
زده کوونکي دې ترافيکي مقررات وپېژني.

له لاندې لغتونو سره بلد شئ:

| | |
|---|---|
| اشاره | نښه |
| موظفين | ګومارل شوي |
| پياده رو | پلې لار |

- ترافيکي نښې پېژنئ؟
- د ترافيکي کار کوونکو دنده څه ده؟
- ترافيکي مقررات ولې را منځته شوي؟

له سړک څخه د تېرېدو په حال کې بايد ترافيکي نښو ته پام وکړو او هغه مراعات کړو.
په څلور لاروکې ترافيکي څراغونه شته. ترافيکي څراغونه درې رنګه لري، زرغون رنګ له سړک څخه د تېرېدو او حرکت نښه ده، ژېړ رنګ د چمتو والي نښه، او سور رنګ د درېدلو نښه ده.





له سړک څخه د تيريدو په حال کې بايد د ترافيک د کار کوونکو لارښوونو ته پام وکړو. له موټر څخه د کښته کيدو وروسته بايد له هغې لارې څخه ګته واخلو، چې د خلکـو د تګ او راتګ لپاره ټاکل شوې ده.
ترافيکي کار کوونکي دنده لري، چې په څلور لاروکې ترافيکي نظم په پام کې ونيسي. موږ بايد ترافيکي قوانين او مقررات مراعات کړو، چې له کومې ترافيکي پېښې سره مخامخ نه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library




د ټولګي زده کوونکي په څو برخو ووېشئ. د زده کوونکو هره برخه دې خالي ځایونه ډک او په ټولګي کې دې، ووایي.

۱- آیا پوهېږئ چې ترافیکي څراغونه د سړکونو په کوم ځای کې موقعیت لري؟

۲ - زرغون رنګ له سړک نه د تېریدو اشاره ده.

۳- .......................................

۴- .......................................

## پوښتنې:

۱_ ترافیکي پېښې ولې را منځته کېږي؟

۲_ د ترافیکي پېښو د مخنیوي لپاره باید څه وکړو؟

۳_ هغه څوک چې په ترافیکي مقرراتو عمل نه کوي، څه ورته پېښیږي؟

**له ټولګي څخه د باندې فعالیت:**

هریو زده کوونکی دې د خپلې کورنۍ په مرسته د ترافیکي کار کوونکو د دندو په هکله معلومات چمتو او په ټولګي کې دې یې بیان کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځلسم لوست

# دولتي ادارې

له لاندې لغتونو سره بلد شئ:

| | |
|---|---|
| پلازمېنه | پایتخت |
| روابط | اړیکې |
| غوره | مهم، عمده، په زړه پورې |
| اړتیا | ضرورت |

**موخه:**

زده کوونکي دې دولتي ادارې وپېژني.

- زموږ په وطن کې کومې دولتي ادارې شته؟
- دغه ادارې کومې دندې ترسره کوي؟

هر دولت د نظم او قانون د ټینګولو او په هېواد کې د کارونو د سرته رسولو لپاره ځینو ادارو ته اړتیا لري، چې دغه ادارې د وزارت په نوم یادیږي. لکه: له وطن څخه د دفاع او امنیت ټینګول، مخابرات، ښوونه او روزنه، حمل ونقل ، روغتیا، کرنه، صنایع او داسې نور. وزارتونه د هېواد په پلازمېنه کې موقعیت لري او د هر وزارت استازي د ریاست تر نامه لاندې په ولایتونو او د مدیریتونو په نامه په ولسوالیو کې کار کوي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

سرتېري د هېواد د پولو د دفاع، پولیس د کورني یا داخلي نظم او امن راوســـتلو او د قانون پلي کولو، ملکي مامورین د هېوادوالو د نورو کارونو، ښوونکي د وطن د اولادونـــو د ښوونې او روزنې د چارو په ترسره کولو بوخت دي.




د ټولګي زده کوونکي په څو ډلو ووېشئ. هره ډله دې د لوســـت غوره مطلبونه ټولګیوالو ته ولولي.

- ..............................................
- ..............................................

## پوښتنې:

۱– هر دولت د ښه نظم د ټینګښت په خاطر څه شي ته اړتیا لري؟

۲– سرتېري په وطن کې کومې دندې سرته رسوي؟

۳– په ښوونځي کې د ښوونکي دندې وښایاست؟

**له ټولګي څخه د باندې فعالیت:**

هر یو زده کوونکي دې د کورنۍ په مرسته د وزارتونو نومونه ولیکي او په ټولګي کې دې یې بیان کړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپاړسم لوست

# د ښارونو ډولونه

**موخې:**

- زده کوونکي دې د ښارونو ډولونه وپېژني.
- ښارونه د نقشې پر مخ پیدا کړي.


دا لاندې لغتونه وپېژنئ:

| | |
|---|---|
| سیمساري | د ښځو د سینګار د شیانو هټۍ (دکان) |
| پښ | آهنګر |
| بزازی | د ټوکرانو پلورلو هټۍ |
| ککړ | چټل، لړلی، ناپاک |


- تاسې په څه ډول ښار کې ژوند کوئ؟

ځینې ښارونه کوچني دي، چې بازارونه یې لږ دوکانونه لري او یو لږ شمېر کسبګر په کې کار کوي. دې ډول ته ښارګوټې وايي. داسې ښارونه د خپل اړتیا وړ مواد له لویو ښارونو څخه راوړي. په لویو ښارونو کې لوی بازارونه وي، چې د هغو په ټاکلو ځایونو کې د پښانو، مسګرانو، حلبي جوړونکو، بزازانو، سیمسارۍ، د خوراکي شیانو او داسې نورو دوکانونه وي او هره برخه یې د هغه اړوند کسب او کار دکوځې په نوم یادیږي.

زموږ په ګران هېواد کې لوی او تاریخي ښارونه شته، لکه: کابل، کندهار، هرات، مزارشریف او نور.



کوچنی ښار




لوی ښار

په ښار کې د خلکو ګڼه ګوڼه زیاته وي. که چېري د ښار پاکوالي ته کلکه پاملرنه و نه شي، د ښار چاپېریال ژر ککړیږي او د دغه چاپېریال خلک په ډول، ډول ناروغیو اخته کېږي. موږ ته لازم دي چې خپل ښار لکه خپل کور وګڼو. د ښار ټول مقررات په خپل ځان ومنو او په ترافیکي قوانینو باندې یې ځان پوه کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د ټولګي دننه فعالیت**



زموږ د وطن لوی ښارونه له ................ څخه عبارت دي.

- ..........................................................
- ..........................................................

**پوښتنې:**

۱. ناپاکه چاپېریال څه زیانونه لري؟
۲. لوی او کوچني ښارونه له یوبل سره څه توپیر لري؟
۳. هغه خلک چې په ښارونو کې ژوند کوي په کومو کارونو بوخت دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوولسم لوست


# د افغانستان مهم او تاریخي ښارونه

موخه: زده کوونکي دې د افغانستان مهم او تاریخي ښارونه وپېژني.

- د افغانستان د څو مهمو ښارونو نومونه واخلئ؟
- د افغانستان د تاریخي ښارونو نومونه واخلئ؟



افغانستان یو لرغونی هېواد دی چې د بلخ (امالبلاد)، هرات، بامیانو، کابل، کاپیسا، بست، غـور او غزنی په څېر لرغوني او تاریخی ښارونه لري. د ورېښمو مشهوره لاره له همـدې ځـای څخـه تېرېدله چې د هند او چین هېوادونه یې له اروپا سره نښلول. د وخت په تېرېدو د ژوند پـه مختلفـو څانگو کې پرمختگونـه منځ ته راغلل او ښارونه هم پراخ شول. نن زموږ د هېواد مهم او لوی ښارونه کابل، مزار شریف، کندهار، هرات، جلال آباد، کندز، بامیان او گردیز دي.



(c) ketabton.com: The Digital Library




د ټولګي زده کوونکي په مختلفو ډلو وویشئ. هره ډله دې د افغانستان مشهور ولایتونه لکه: کندهار، مزار شریف، پــروان، کندز، پکتیا، هرات ، بامیان، غور او غزني د نقــشي پــرمخ ښباني کړي.

**پوښتنې:**

۱- کوم ښار ته (ام البلاد) وايي؟

۲- د وربښمو لارې کومې سیمې سره ښښلولې؟

۳- د افغانستان د څلورو تاریخي ښارونو نومونه واخلئ؟

۴- د افغانستان د اوسنیو پنځو مهمو او لویو ښارونو نومونه واخلئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د نړۍ لوی ښارونه

**موخه:**

**- زده کوونکي دې د نړۍ له لويو ښارونو سره آشنا شي.**

دا لاندې لغتونه وپېژنئ:

| | |
|---|---|
| نفوس | وگړي |
| تجارت | سوداگري |
| ستون | کرښه، ليکه، پايه |
| گڼ ميشت | زيات اوسيدونکي |

– **د نړۍ د يوځو لويو ښارونو نومونه اخيستلای شئ؟**

د نړۍ ځيني ښارونه ديني او مذهبي ارزښت لري، لکه: مکه معظمه، مدينه منوره، بيت المقدس، واتيکان او ځيني د نفوس د زياتوالي، صنعت او تجارت لـه امله د اهميت وړ دي، لکه نيويارک، نوی ډهلی، توکيو، لندن، پاريس او نور.



**د مديني منورې ښار**

په نړۍ کې زيات گڼ ميشت ښارونه شته، چې د اوسيدونکو شمېر يې لـه لسو ميلونو څخه اوړي، لکه: د امريکا پـه متحده ايالتونو کې نيويـارک، پـه جاپـان کې توکيو، په انگلستان کې لندن، په روسيه کې مسکو،په هند کې بمبيي، پـه چين کې پيکن اوپه اندونيزيا کې جاگارتا.



**د لندن ښار**

(c) ketabton.com: The Digital Library




د ټولګي زده کوونکي په څو ډلو باندې وویشئ. د هرې ډلې زده‌کوونکي دې په خپلو کتابچو کې د ښي لاس د ستون کلمې د کیڼ لاس له کلمو سره ونښلوي.

| | |
|---|---|
| تهران | عربستان |
| واشنګټن | انګلستان |
| لندن | اندونیزیا |
| جاګارتا | امریکا |
| مکه معظمه | ایران |

**پوښتنې:**

**۱ – د سمو جملو په وړاندې د (ص) توری او د ناسمو جملو په وړاندې د(غ) توری ولیکئ.**

**مسکو، د امریکا پایتخت دی.** (          )

**توکیو د جاپان پایتخت دی.** (          )

**مزارشریف د افغانستان پایتخت دي** (          )

**لندن د انګلستان پایتخت دي.** (          )

SS(P)0407

(c) ketabton.com: The Digital Library

نولسم لوست

# د ښاري ژوند چاپېریال

**موخه:**
زده کوونکي دې د ښاري ژوند له چاپېریال سره بلد شي.

**دا لاندې لغتونه وپېژنئ:**

| | |
|---|---|
| خځلې | راټوله شوی ناپاکي |
| لامل | سبب، علت |

- تاسې چېرته ژوند کوئ؟
- ونې او ځنګلونه د ژوندانه چاپېریال ته څه ګټه رسوي؟



پاک اوسمسور چاپېریال

په ښارونو کې د وګړو او اوسېدونکو زیاتوالی د اوبو، خوراکي او د سون د توکو (موادو) د ډېر لګښت او په چاپېریال کې د خځلو د انبارېدو لامل ګرځي، چې ډول ډول ناروغۍ منځ ته راوړي. دا داسې یوه ستونزه ده، چې د ښار په ټولو اوسېدونکو پورې اړه لري. له دې امله د ښار ټول اوسېدونکي باید د خپل ښار په پاکوالي، نظم او سمسورتیا کې برخه واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




زده کوونکي دې په ډلو وویشل شي. هره ډله دې له ورکـــړ شوي مثال سره سم څو جملې ولیکي.

د ښار هر یو اوسیدونکی باید د چاپیریال په پاکوالي کـــې کوم کار وکړي.

- ..............................................
- ..............................................

**پوښتنې:**

۱- ښاروالي د چاپېریال په ساتنه کې څه رول لري؟

۲- څنګه موږ کولای شو چې خپل چاپېریال پاک وساتو؟

۳- ناپاکه چاپېریال د انسانانو په ژوند کې څه اغیزه لري؟

**له ټولګي څخه د باندې فعالیت:**

زده کوونکي دې د خپلو مشرانو په مرسته د پاک چاپېریال د ګټې په هکله یوڅه ولیکي او په ټولګي کې دې یې ولولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شلم لوست

# پنځم څپرکی

## زمونږ هیواد

## ملي بیرغ

موخې:

- زده کوونکي باید له ملي بیرغ سره آشنا شي.
- زده کوونکي دې د ملي بیرغ په اهمیت پوه شي.

دا لاندې لغتونه وپېژنئ:

| | |
|---|---|
| ښکېلاکګر | استعمار ګران |
| ځانګړې | خاص، ټاکلی |
| احاطه | د یوه شي ګرد چاپېره |
| ویاړ | فخر |
| سمبول | علامه، نښه |

- بیرغ د څه شي نښه ده؟
- زمونږ ملي بیرغ څو رنګونه لري؟



که چیرې ملي بیرغ ته وګورئ، وبه وینئ چې درې رنګه لري: تور، سور او زرغون. د بیرغ رنګونه له کیڼ څخه ښي خواته یو د بل تر څنګ په مساوي برخو جوړ شوي دي. دا رنګونـه د هېواد په تاریخ کې ځانګړی مفهوم لري.

- تور رنګ زمونږ په هېواد کې د ښکېلاکګرو او تېرې کوونکو توره نښه ده.
- سور رنګ د هېواد د خپلواکۍ د لارې د شهیدانو د سرو وینو نښه ده.
- زرغون رنګ د سمسورتیا او آبادۍ نښه ده. دغه رنـګ په افغانستان او ټوله اســـلامي نړۍ کې د پاملرنې وړ دی او خلک ورته په ډېر ارزښت قایل دي.

د افغانستان د ملي بیرغ نښان له سپین رنګـه محراب او منبر څخه عبارت دی، چـــې پــه دووخنډو کې دوه بیرغونه لري. د منځ په پورتنۍ برخه کې یې د(لا اله الا الله محمد رسول الله)

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاکه او سپیڅلې کلمه، الله اکبر او د راختلو په حال کې د لمر وړانګې، لاندینۍ برخه کې یې د (۱۲۹۸ لمریز) کال نېټه او د افغانستان نوم او په دوو څنډو یې د غنمو وږي را تاو شوي دي. محراب او منبر یې زموږ د خلکو د مسلمانۍ او د غنمو وږي د هېواد کرنیز توب څرګند وي. ملي بیرغ د هېواد د تاریخ په اوږدو کې زموږ د خلکو د ملي یووالي، خپلواکۍ او د ځمکنۍ بشپړتیا څرګندوی دی.

د ملي بیرغ ارزښت:

- ملي بیرغ د ملي یووالي او ویاړ نښه ده.
- ملي بیرغ د هېواد د تاریخ څرګندوی دی.
- ملي بیرغ د هېواد د خپلواکۍ او آزادۍ سمبول دی. له دې امله باید د هغه درناوی وشي او باید د خپلو نیکونو په شان لکه د سترګو د کسې په څېر وساتل شي.




- د زده کوونکو هره ډله دې لاندې جملې بشپړې او له نورو سره دې خبرې پرې وکړي.

۱. ملي بیرغ د .................. نښه ده.
۲. ملي بیرغ د.................... څرګندوی دی.
۳. ملي بیرغ زموږ د................ نښه ده.

## پوښتنې:

۱. زموږ د ملي بیرغ رنګونه د څه شي استازیتوب کوي؟
۲. ولې باید دخپل ملي بیرغ درناوی کوو؟

له ټولګي څخه د باندې فعالیت:

- د ملي بیرغ په هکله څه احساس کوئ. د خپلو مشرانو په مرسته یو مطلب جوړ کړئ او په ټولګي کې یې ولولئ.

------------------------------------------

------------------------------------------

- د زده کوونکو هره ډله دې د کاغذ او رنګه قلم په واسطه ملي بیرغ جوړ او په ټولګي کې دې یې نورو ته وښيي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو ویشتم لوست

# څلور اصلي سمتونه (لوري)

**موخه:**

- زده کوونکي دې لوري و پېژني.

دا لاندې لغتونه وپېژنئ:

| | |
|---|---|
| طلوع | لمر راختل |
| غروب | لمر ښکته کېدل، پرېوتل |
| نماینده | پلاوی، استازی |

لمر هره ورځ له یوې خوا څخه راخېژي او بلې خواته پرېوزي. انسانانو د لورو د پېژندلو لپاره د لمر له راختلو او پرېوتلو څخه ګټه اخستې ده.

د لمر د راختلو خوا د ختیځ (شرق) په نامه یادوي. د لمر پرېوتلو ته لویدیځ (غرب) وايي. که موږ د لمر پرېواته خواته داسې ودرېږو، چې شا مو د لمرخاته خواته وي په دې صورت کې به زموږ ښي خوا ته شمال او کیڼ خوا ته به مو سهیل وي. دا څلور خواوې چې نومونه یې واخیستل شول د اصلي څلورو خواو په نامه یادېږي. څلور خواوې د قطب نما او مقناطیسي میلې په واسطې سره هم ټاکلای شو.



(c) ketabton.com: The Digital Library




زده کوونکی دې په څلورو ډلو وویشل شي. هره ډلــه دې د يـــوې اصلي خوا په لوري ودرېږي او څلور خواوې دې پیدا کړي او وروسته دې د هرې ډلې استازی خپل فعالیت نورو ته په عملي توګه ور وښيي.

**پوښتنې:**

۱. د څلورو اصلي خواوو نومونه واخلئ؟

۲. انسانان د لورو د پېژندلو لپاره له کومې طریقې څخه ګټه اخلي؟

۳. که تاسو مخ په لمرخاته ودرېږئ، ستاسو مخې، شا، ښی لاس او کيڼ لاس ته به کوم لوري واقع وي.

له ټولګي نه د باندې د زده کوونکو فعالیت:

۱- د وزګارتیا په وخت کې کله مخ په لمر خاته یا لمر پرېواته او نورو لورو خواته ودرېږئ او وګورئ چې څرنګه کولای شئ سمتونه پیدا کړئ.

۲- د خپلې کورنۍ له مشرانو څخه پوښتنه وکړئ چې د شمال او ختیځ ترمنځ لوري په څه نامه یادیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څلور فرعي سمتونه (لوري)

**موخه:**

- زده کوونکي دې فرعي لوري وپیژني.

دا لاندې لغتونه وپیژنئ

| | |
|---|---|
| اصلي لوري | ختيځ، لويديځ، شمال، جنوب |
| فرعي لوري | فرعي لوري د دوو نږدې اصلي لورو تر منځ موقعيت لري. |
| لوري | خوا |
| لويديځ | غرب |
| ختيځ | شرق |
| ګاونډي | همسايه |


– د سوېل او لويديځ لورو منځ ته څه وايي؟
– يوه کوټه څلور ديواله لري، چې هر ديوال
يې يو اصلي لورى ښيي. آيا پوهېږئ چې دکوټې څلور ګوټونه (کونجونه) کوم لوري راښيي؟

| | | |
|---|---|---|
| فرعي لورى | اصلي لورى | فرعي لورى |
| اصلي لورى | | اصلي لورى |
| فرعي لورى | اصلي لورى | فرعي لورى |

ختيځ، لويديځ، شمال او سـوېل خوا وو ته اصلي لوري وايي. فرعي لوري د دوو اصلي لورو په منځ کې يو د بل تر څنګ واقع دی. هغه لورى چې د شمال او ختيځ په مـنـځ کـې پروت دی، د شمال ختيځ په نوم او هغه سمت چې د شمال او لويديځ په منځ کې پروت دی د شمال لويديځ په نوم ياديږي.

په همدې توګه هغه لورى چې د سـوېل او ختيځ په منځ کې واقع دی، د سـوېل ختيځ په نامه او هغه لورى چې د سوېل او لويديځ په منځ کې پروت دی د سوېل لويديځ په نوم ياديږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library







خالي ځایونه په مناسبو کلمو ډک کړئ:

د شمال اوختیځ منځ ته ...................................... وايي.

د ختیځ او سوېل منځ ته ................................... وايي.

د شمال اولویدیځ منځ ته .................................. وايي.

د سوېل او لویدیځ منځ ته ................................. وايي.

## پوښتني:

۱- د فرعي څلورو خواو نومونه واخلئ؟

۲- ستاسو د کور شمال ختیځ لورته د چا کور واقع دی؟

۳- ستاسو د ښوونځي شمال لویدیځ لوري ته څه شی واقع دی؟

۴- ستاسو د سیمي د جومات سوېل لویدیځ ته کوم ځای موقعیت لري؟

۵- ستاسو د کور سوېل ختیځ خواته کوم ځای موقعیت لري؟

له ټولګي نه د باندي د زده کوونکو فعالیت:

کله چي خپل کورته راغلی وګورئ چي په اصلي او فرعي سمتونو کـې ستاســو ګاونډیان څوک دي. دا خبره سبا په ټولګي کي بیان کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دروېشتم لوست

# نقشه او د هغې څلور خواوې


**موخې:**

- زده کوونکي دې د نقشې په مخ لوري وپېژني.
- له بېلابېلو نقشو سره د زده کوونکو آشنا کول.

دا لاندې لغتونه وپېژنئ

| لوري | خواوې |
| --- | --- |
| علامه | نښه |
| ځير | په غور سره يوه شي ته کتل، دقت کول |

– د نقشې په مخ سمتونه څنګه پيداکولای شئ؟





نقشه داسې وسيله ده، چې د هغې په واسطه د ځمکې د مخ هوادونو او مختلفو سيمو په باره کې معلومات لاس ته راوړو. جغرافيايي نقشه موږ ته د وچو، د سمندرونو، غرونو، سيندونو، ځنګلونو، ښارونو او نورو موقعيت رابښيي. نقشه ډېر ډولونه لري، لکه طبيعي نقشه، سياسي نقشه او نور. په نقشه کې داسې علامې کېښودل چې هره يوه يې مختلف ځايونه ښيي.





د شمال لورى د نقشې پورته خواته، د سوېل (جنوب) لورى د نقشې ښکته خوا ته، ختيځ لورى د نقشې ښې لاس ته او د لويديځ لورى د نقشې کيڼ لاس ته وي. تاسې کولای شئ، دا لوري د خپلو کتابونو په نقشو او يا پر ديوال باندې په ځړول شوو نقشو کې و ګورئ. که موږ کتاب يا نقشه خپلې مخې ته د ميز په سر کېږدو، هغه لورى چې موږ ته مخامخ او له موږ نه لېرې واقع دى، د شمال لورى او هغه لورى چې موږ ته نږدې دى د جنوب لورى دى. زموږ ښي لاس ته د نقشې ختيځ لورى او کيڼ لاس ته د نقشې لويديځ لورى دى.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه نقشه چې غرونه اوسیندونه په کې ښودل شوی وي، د طبیعي نقشې په نامه یادېږي. هغه نقشه چې ولایتونه، ښارونه، پلازمېنې، بندرونه، ګډې پولې او هېوادونه په کې ښودل شوي وي د سیاسي نقشې په نامه یادیږي.







زده کوونکي دې په څو ډلو ووېشل شي، بیا دې د هرې ډلې زده‌کوونکي خالي ځایونه د نقشې له مخې په مناسبو جملو سره ډک کړي. د افغانستان لویدیځ ته (          ) موقعیت لري. د افغانستان شمال ته د (          ) (          ) او (          ) جمهوریتونه پراته دي. د چین د خلکو جمهوریت زموږ د هېواد (          )خواته پروت دی.

## پوښتنې:

۱ـ څو ډوله نقشې پېژنی؟

۲ـ د نقشې پرمخ څرنګه لوري مونډلای شئ؟

۳ـ د نقشې پرمخ اصلي او فرعي لوري وښیئ؟

ټولګي نه د باندې د زده کوونکو فعالیت:

داسې یوه نقشه رسم کړئ، چې د هغې پرمخ دخپل کور جومات او ښوونځي ځایونه وښودلای شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلور ویشتم لوست

# زموږ د هېواد څلور خواوې


موخه:

- زده کوونکي دې د افغانستان له ګاونډیانو سره آشنا شي.

دا لاندې لغتونه وپېژنئ:

| ګاونډي | همسایه |
|---|---|
| نړۍ | دنیا |
| غوره | ټاکلی، انتخاب، سم |

- افغانستان د نړۍ په کومه برخه کې پروت دی؟
- د افغانستان څلورو خواوو ته کوم هېوادونه پراته دي؟




زموږ هېواد افغانستان د آسیا د لویې وچې په سوېل کې پروت او په وچې سره احاطه شوی دی. مساحت یې (۶۵۲) زره کیلومتره مربع دی. زموږ د هېواد شمالي ګاونډیان د تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان اسلامي هېوادونه، لویدیځ ته مو د ایران اسلامي جمهوریت، سوېل او ختیځ سرحدونه د پاکستان اسلامي جمهوریت سره دیورند د تحمیلي کرښې په واسطه په نښه شوی چې د افغانستان خلکو هغه په رسمیت نه دی پیژندلی. په شمال ختیځه خواکې زموږ هېواد د چین له جمهوریت سره نښتی دی.

زموږ هېواد د آسیا په لویه وچه کې د خپل موقعیت له مخې ځانګړی ارزښت لري او د یوه پله په څېر د آسیا د لویې وچې زیاتره هېوادونه سره نښلوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




- دکیڼې خوا جملې په ښي خواکې له اړوندو کلمو سره ونښلوئ.

۱. ازبکستان

۲. د ایران اسلامي جمهوریت

۳. د چین دخلکو جمهوریت

۱.زموږ د هېواد په شمال ختیځ کې پروت دئ.

۲. زموږ د هېواد په شمال کې پروت دی.

۳.زموږ د هېواد په لویدیځ کې پروت دی.

## پوښتنې:

سم ځواب غوره کړئ

۱. افغانستان د آسیا د لویې وچې په کومه برخه کې پروت دی؟

الف: شمال

ب: ختیځ

ج: سوېل

۲. د افغانستان پراخوالی څو کیلومتره مربع دی؟

۳. د افغانستان د ګاونډیو هېوادونو نومونه واخلئ؟

له ټولګي نه د باندي د زده کوونکو فعالیت:
زده کوونکي دې د خپل کتاب له مخې د هېواد نقشه رسم کړي او ټولګي ته دې راوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځه ویشتم لوست

# زموږ د هېواد اداري ویش


دا لاندې لغتونه وپېژنئ:

| | |
|---|---|
| هېواد | وطن، مملکت |
| ګاونډیان | همسایګان |
| ګټه | فایده |
| پلازمېنه | مرکز، پایتخت |

موخه:

- زده کوونکي دې د هیواد د ولایتونو موقعیت وپېژني.

- تاسې د کوم ولایت یاستئ؟ له نقشې نه په ګټې اخستنې د خپل ولایـــت ګاونډیـــان وښیئ؟
- د هېواد د پنځو ولایتونو نومونه واخلئ؟




د افغانستان د ولایتونو نقشه

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ د ګران هېواد نوم افغانستان دی. افغانستان د اداري وېش له مخې په ۳۴ ولایتونـــو وېشل شوی دی. هر ولایت د والي له خوا اداره کېږي. والي د ولایت قانوني واکمن دی. ټول دولتي او رسمي کارونه د قانون په رڼا کې اجرا کېږي. هر ولایت په ولسوالیو وېشل شوی دی. د ولسوالۍ سیمه د ولسوالانو له خوا اداره کیږي. زموږ د هېواد د ولایتونو لوی ښارونه هرات، کندهار، مزار شریف، کندز، جلال آباد، غزني او نور دي. د افغانستان لوی ښار د کابل ښـــار دی چې د هېواد مرکز او پلازمېنه ده.

د ټولګي دننه فعالیت



زده کوونکي دې په پنځو ډلو ووېشل شي. هره ډله دې د هېواد د شمال ، سوېل، ختیځ، لویدیځ او مرکـــزي ولایتونـــو نومونـــه ولیکي او په ټولګي کې دې نورو ته ولولي.

## پوښتني:

۱_ د افغانستان د شمالي ولایتونو نومونه واخلئ؟

۲_ د افغانستان د ختیځو ولایاتونو نومونه واخلئ؟

۳_ د هرات، فراه او نیمروز ولایتونه د افغانستان کومې خواته پراته دي؟

۴_ د افغانستان د پلازمېنې (پایتخت) نوم څه دی او هغه د نقشې په مخ پیداکړئ؟

له ټولګي نه د باندې د زده کوونکو فعالیت:

د افغانستان نقشه رسم کړئ. دکابل، کندهار، مزار شریف، هرات، ننګرهار، پکتیا او خپل ولایت په کې په نښه کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږویشتم لوست

# د افغانستان دین، ژبه او نفوس

موخه :
- زده کوونکی دې په هېواد کې له دین، ژبو او نفـوس سـره آشنا شي.

دا لاندې لغتونه وپېژنئ:

| | |
|---|---|
| نفوس | د یوهېواد د خلکو شمېر |
| تړاو | ارتباط |
| کابو | لږترلږه، کم ترکمه، نیږدې |
| ډېره کی | اکثریت |

- د اسلام سپیڅلی دین په کوم ځای کې را ښرگند شو؟
- تاسې له نورو خلکو سره د اړیکو د نیولو لپاره په کومه ژبه خبرې کوئ؟

زموږ د هېواد د نږدې ټولو اوسیدونکو دین اسلام دی. د اسلام مقدس دیـن کـابو څـوارلس پېړۍ د مخه په مکه معظمه کې را ښرگند او د لوی خدای (ج) د پیغمبـر حـضرت محمـد(ص) پـه واسطه خلکو ته ورسید. د اسلام دین د مسلمانانو د دریم خلیفه، حـضرت عثمـان (رض) پـه زمانـه کې افغانستان ته راورسید. له مسلمانانو برسـیره زموږ په هېواد کې یو لږ شمېر هندوان او سـکهان هم اوسېږي.

په افغانستان کې د (۳۰) په شاوخوا کې ژبې شته، چې د هېواد په بېلو، بېلو برخوکې پرې خبرې کېږي. له دې جملې پښتو او دري د دولـت رسـمي ژبـې دي. ازبکـي، ترکمنـي، پـشه یـي بلوڅي، نورستاني او پامیري ژبي هم د هیواد په هغو برخو کې چې زیات شمیر وگـړي پـرې خبـرې کوي، پر پښتو او دري سر بیره، دریمې رسمي ژبي گڼل کیږي.

د افغانستان زیاتره اوسیدونکي آریایي نژاد دي.

د اټکل له مخې د افغانستان د وگړو شمېر شاوخوا (۲۶) ملیونو تنو ته رسیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




د زده کوونکو هره ډله دې په ډلو باندې له ویش وروسته د لوست غوره مطلبونه په لنډه توګه په ټولګي کې ولولي.

**پوښتنې:**

۱– زمونږ په هېواد کې څو ژبې شته؟

۲– د هېواد د ډېره کيو د دين په هکله څه پوهېږئ؟

۳– د افغانستان د وګړو شمېر څومره دی؟

له ټولګي څخه د باندې فعالیت:

له خپل مور او پلار او مشرانو څخه وپوښتئ، چې په هېواد کې له (۳۰) ژبو څخه پښتو او دري ولې رسمي ژبې دي؟

SS(P)0407

(c) ketabton.com: The Digital Library

اووه ویشتم لوست

# زمورږ د هېواد غرونه


**موخه:**
زده کوونکي دې د هېواد غرونه وپېژني.

دا لاندې لغتونه وپېژنئ:

| شته والی | موجودیت |
|---|---|
| دنګ | لوړ، جګ |
| لړۍ | سلسله |

- د غرونو شته والی په آب وهوا باندې څه اغیزه لری؟
- زمورږ د هېواد مهم غرونه کوم دي؟

افغانستان یو غرنی هېواد دی، چې د مساحت په سلوکې اتیا برخه یې لــوړو او دنګــو غرونو نیولې ده. دا غرونه زیاتره په مرکز، لویدیځ او شمال ختیځ کې پراته دی. هوا په دې سیموکې سړه وی او زیاتره په کې واوره اوریږي. زمورږ د هېــواد مــشهور غرونــه هندوکش، د بابا غر، ســپین غــر، سیاکوه، سفید کوه او داسې نــور دي.





د افغانستان
طبیعي نقشه

۱.د هندوکش غر: دغه غر د هېواد له مشهورو او لویو غرونو څخه شمېرل کېږي چې له شمال لویدیځ څخه سوېل لویــدیځ ته غځېدلی او په لویدیځ هندوکش او ختیځ هندوکش وېشل شوی دی. د سالنګ لویه لار چې د هېواد شمالي سیمې له سوېل سره نښلوي، د همدې غره له زړه څخه تېریږي.

۲. د بابا غر: دا غر د هېواد په مرکز کې پروت او له ختیځ څخه لویدیځ تــه غځیــدلې دی. ددې غره د لمنو څړځایونه د څارویو د روزنې له پلوه زیات ارزښت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بابا غر د افغانستان په مرکزي برخه کې

**۳. سپین غر**: د غرونو دا لړۍ د هېواد په ختیځ کې پرته ده، چې له ختیځ څخه د لویدیځ په لور غځیدلې ده. شمالي او جنوبي لمنې يې په لويو او ګڼو ځنګلونو پوښل شوي دي. په پورتنيو غرونو سربېره په افغانستان کې نور غرونه هم شته، لکه فيروز کوه، سیاه کوه، سلیمان غر، تیر بند ترکستان او داسې نور.

**زياتي معلومات**

**د سالنګ تونل د هېواد اوږد تونل دی. دا تونل د هندوکش د غره په لړۍ کې تېر شوی دی او له سمندر څخه (۳۳۶۰) متره لوړ پروت دي. دا تونل ۲۶۷۶ متره اوږدوالی، ۷,۵ متره سور او ۷,۱ متره لوړوالی لري. د تونل په شاوخوا کې د هغه دننه (داخلي) هوا د پاکولو په خاطر د برېښنا جنراتورونه لګیدلي دي. ددې تونل د کیندلو کار د ۱۳۳۲ لمریز کال د لیندۍ په میاشت کې پیل او د ۱۳۴۳ لمریز کال د وږي په میاشت کې پای ته ورسید، چې د هېواد د شمالي او سوېلي سیمو ترمینځ د تګ راتګ له امله زيات ارزښت لري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library




- د زده کوونکو هره ډله دې د لوست لنډ مطلب ولولي.
- د زده کوونکو هره ډله دې د سالنګ د لويې لارې د ارزښت په هکله يوله بله سره وغږېږي اوبيادې هره ډله خپل نظر ټولګيوالو ته بيان کړي.

## پوښتنې:

۱. د هندوکش غر د افغانستان په کومه برخه کې پروت دی او کومه لويه لار له هغه څخه تيرېږي؟

۲. د بابا غر چېرې پروت دی او څه ارزښت لري؟

سم ځواب غوره کړئ.

۳. په غرنيو سيمو کې هوا:

الف. ډېره توده وي.

ب. ډېره يخه وي.

ج. نه يخه وی اونه توده وي.

د. په زړه پورې وي.

**له ټولګي څخه دباندې فعاليت:**

د لويانو په مرسته د خپلې سيمې د غرونو نومونه لست او په ټولګي کې يې ولولئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اته ویشتم لوست

# زمورږ د هېواد د غرونو ارزښت

موخه:

زده کوونکي دې د هېواد د غرونو ګټې وپېژني.

دا لاندې لغتونه وپېژنئ:

| | |
|---|---|
| نقش | رول، برخه، وظیفه |
| کان | معدن |
| زېرمه | ذخیره |

- په یو هېواد کې د غرونو شتون څه رول لري؟
- د افغانستان د مهمو غرونو نومونه واخلئ؟

په یوه سیمه کې د غرونو شته والی سربېره پردې چې د هغې سیمې ښکلا زیاتوي، له هغې څخه زیاتې نورې ګټې هم تر لاسه کېږي، لکه: څرځایونه، کانونه، د ودانیو ډبرې، ځنګلونو او داسې نور.

زمورږ هېواد یو غرنی هېواد دی. ځینې غرونه یې په ځنګلونو پټ دي. د هېواد په یو شـــمېر غرونو باندې تل واورې پرتې وي. د غرونو واورې په اوړي کې اوبه کېږي او د هغو له اوبـــو څخه رودونه جوړېږي، چې دکښتونو په خړوبولو او د برېښنا په تولید کې له هغې څخه ګټــه اخېستل کېږي. که چېرې زمورږ په هېواد کې غرونه او لوړځایونه نه وای، بیله شکه چې زمـــورږ هېواد به یو وچ، بې اوبو او بې وښو بیابان وای. سربېره پردې زمورږ د هېواد په غرونو کـــې د قیمتي کاني ډبرو سترې زېرمې موجودې دي. په یوه سیمه کې د غرونو شتون د هغې سیمې په آب وهوا باندې زیاته اغیزه لري.

په افغانستان کې د غرونو شته والی زمورږ لپاره یوه لویه خدایي پېرزوینه شمېرل کېږي.




تش ځایونه په مناسبو کلمو ډک کړئ.

۱. د افغانستان ځینې غرونه په ................. پټ دي.

۲. د افغانستان د غرونو په زړونو کې .......... موجود دي.

۳. د هېواد د غرونو شته والی ................ شمېرل کېږي.

پوښتنې:

۱- که چېرې زمورږ په هېواد کې لوړ غرونه او نورې لوړې سیمې نه وای، هغه به څه ډول یو هېواد وای؟

۲- د غرونو شته والی د یوه هېواد په اوبو او هوا باندې څه اغېز لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه ویشتم لوست


# زموږ د هېواد سیندونه

موخې:
- زده کوونکي دې د هېواد مهم غرونه وپېژني.
- زده کوونکي دې په نقشه کې د افغانستان سیندونه وښودلای شي.

دا لاندې لغتونه وپېژنئ:

| | |
|---|---|
| سرحد | ګډه پوله |
| سمندرګی | بحیره |
| هامون | جهیل یا د اوبو ډنډ |

- سیندونه څه ډول منځته راځي؟




په افغانستان کې د جغرافیایي موقعیت او له سمندرونو څخه د لرې والي له امله دکال په اوږدو کې په پوره اندازه باران نه وریږي. په افغانستان کې اورښت د ژمي په موسم او د پسرلي په لومړیو وختونو کې کېږي. هغه واوره چې په ژمي کې د هېواد په لوړو او غرنیو سیمو کې وریږي، زېرمه کېږي او دکال په اوږدو کې په تیره بیا د اوړي په موسم کې د اوبو لویه سرچینه جوړوي او سیندونه ترې جوړېږي. له همدې کبله زموږ د هېواد د سیندونو اوبه په پسرلي او اوړي کې زیاتې وي. زموږ د هېواد مشهور سیندونه دادي:

- د آمو سیند: د کوچني پامیر له سیمې څخه سرچېنه اخلي. د افغانستان له سرحدونو څخه تېرېږي او د اورال په سمندرګي کې تویېږي. د افغانستان او منځنۍ آسیا د هېوادونو ترمنځ ګډ سرحد جوړوي. د کوکچې او کندز سیندونه د هغه له مرستیالانو څخه شمېرل کیږي.
- د هلمند سیند: د هلمند سیند د هېواد له لویو او ډېرو اوږدو سیندونو څخه دی چې د بابا له غره څخه سرچېنه اخلي. دغه سیند د هزاره جاتو په سیمو کې ډېر تېز بهیږي. کله چې له


(c) ketabton.com: The Digital Library

غرنیو سیمو څخه تېر شي، تیزوالی یي کمېږي. د کجکي د برېښنا بند په دې سیند بانــدې جوړ شوی دی، چې په زرګونو جریبه ځمکه خړوبوي او په پای کې د هلمند په هامون کې تويیږي. د ارغنداب رود د هغه له مرستیالانو څخه دی.

- د هریرود سیند: دغه رود د بابا له غره څخه سرچینه اخلي. له ختیځ څخه د لویدیځ پـــه لور بهیږي. د هرات ولایت د ځمکو له خړوبولو څخه وروسته له هغه ولایت څخه تېریږي. د افغانستان- ایران او ترکمنستان - ایران ترمنځ طبیعی سرحد جوړوي.
- د کابل سیند: د پغمان له غره څخه سرچینه اخلي. له لویدیځ څخه ختیځ لور ته بهېــــږي. کله چې د کابل له ښار څخه تېر شي د لـوګر، پنجشېر او د علیـشنګ ســـیندونه ورســـره ګډیږي. په پای کې په اټک کې د سند له سیند سره ګډېږي. د دې سیند په اوږدو کـــې د ماهیپر، نغلو، سروبي او درونټې د برېښنا بندونه جوړ شوي دي، چې له اوبو څخه یـــې د اوبولو او له برېښنا څخه یې په کابل او ننګرهار کې ګټه اخیستل کیږي.



د کابل په ښار کې د کابل د سیند یوه منظره



د درونټې د برېښنا بند

(c) ketabton.com: The Digital Library




- سيندونه څنګه جوړيږي، ويې ليکئ.

- ..........................................................
- ..........................................................
- ..........................................................

## پوښتنې:

تر ټولو ډېرسم ځواب وټاکئ:

۱. په افغانستان کې د اورښت وخت:

الف. د چنګاښ مياشت ده.

ب. د زمري مياشت ده.

ج. ژمی او د پسرلي لومړۍ ورځې دي.

د. د تلې مياشت.

لنډ ځواب ورکړئ:


۲. د هلمند سیند له کوم غره څخه سرچینه اخلي اوپه پای کې چېرته تويیږي؟

۳. د آمو سیند له کوم ځای څخه سرچینه اخلي او چېرته تويیږي؟

۴. د هغو بندونو نومونه واخلئ، چې د کابل پر سیند باندې جوړ شوی دي.

له ټولګي څخه د باندې فعاليت:

نقشې ته وګورئ او په هغې کې د افغانستان د سيندونو نومونه وليکئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سيندونو ارزښت

موخه:


- زده کوونکي دې د سيندونو ارزښت وپيژني.

دا لاندې لغتونه وپيژنئ:

| کيندل | ژورول |
|---|---|
| کاريز | د خو پرله پسې څاګانو کيندل چې د وروستي څاه څخه اوبه د ځمکې پر مخ بهيږي |

- سيندونه د انسان په ژوندانه کې څه اهميت لري؟


سيندونه د اوبو د بشري اړتياوو په برابرولو کې ارزښت ناکه رول لري ځکه د څاګانو او کاريزونو له کيندونو د مخه سيندونو او چينو د اوبو يوازينۍ زيرمې تشکيلولې او ګټه ورڅخه اخيستل کيدله. د سيندونو له اوبو څخه د کرنې او کښتونو په اوبولو سربېره به بېړيو کې د مالونو د وړلو راوړلو، د برېښنا په توليد او داسې نورو چارو کې هم ګټه اخيستل کېږي. همدارنګه زموږ هيوادوالو د بهېدونکو اوبو د لارو په اوږدوکې د اوبو ژرندې جوړولې او خپلې غلې به يې په هغو باندې اوړه کولې. همدارنګه يو شمېر خلک په سيندونو کې د کبانو په ښکار بوخت وو.



د افغانستان په دروکې مست سيندونه بهيږي

د ټولګي دننه فعاليت

- د زده کوونکو هره ډله دې د لوست لنډ مطلب ووايي او په خپلو منځونو کې دې يوله بله سره پرې و غږېږي.



پوښتنې:

لاندې جملې بشپړې کړئ.

۱. سيندونه د انسانانو د اړتيا وړ اوبو په بشپړتيا کې ............. لري؟

۲. د سيندونو له اوبو څخه سربېره د هغوی له اوبو څخه د ګټې اخيستنې په نورو چارو.......... ګټه اخيستل کيږي.

# شپږم څپرکی

## زموږ نړۍ

## د نړۍ لويې وچې

**موخه:**

- زده کوونکي دې د نړۍ لويې وچې و پېژني.

دا لاندې لغتونه وپېژنئ:

| | |
|---|---|
| متمدن | مترقي، پرمخ تللي |
| محاط | له ټولوخواوو څخه احاطه شوی يا نبښتي |
| عادی | معمولي |

- لويه وچه څه ډول ځای ته ويل کېږي؟

- د لويو وچو نومونه له لويې څخه د کوچنۍ په لوري په ترتيب سره واخلئ.




د ځمکې د کرې زياتره برخه اوبو نيولې ده او لږه برخه يې وچه ده. لويې وچې د (براعظم) په نوم يادېږي چې دځمکې په مخ د هغوی شمېر شپږو ته رسيږي. په هره لويه وچه کې يو زيات شمېر لوی او کوچني هېوادونه پراته دي. لويې وچې له آسيا، امريکا، افريقا، اروپا، استراليا او اوقيانوسيه او انتارکتيکا څخه عبارت دي. د انتارکتيکا له لويې وچې څخه پرته د نړۍ نورې لويې وچې د اوسيدو وړ او د انسانانو د استوګنې ځايونه دي.

د آسيا لويه وچه د نړۍ تر ټولو لويه وچه ده، چې په هغې کې لوړ او دنګ غرونه پراته دي. آسيا د نړۍ د لويو دينونو د پيدايښت ځای و. زياتره تاريخي او بشري پرمختګونه په دې لويه وچه کې منځ ته راغلي دي.

زموږ ګران هېواد افغانستان، چې ډېر زړه کلن فرهنګي او متمدن تاريخ لري، ددې لويې وچې په سوېل کې پروت دی. په نړۍ کې د(۴۰) په شاوخوا کې هېوادونه په وچې محاط شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي، چې آزاد سمندر ته لار نه لري. له دې جملې څخه ۱۴ هېوادونه د افریقا په لویه وچه کې ۱۲ هېوادونه د اروپا په لویه وچه کې دوه هېوادونه د امریکا او ۱۲ هېوادونه د اسیا په لویه وچه کې پراته دي.




د لویو وچو نومونه واخلئ.

۱- .................. ۲ .........................

۳- .................. ۴ .........................

۵ - ................ ۶ .........................

## پوښتنې:

سم ځواب غوره کړئ.

۱- زموږ هېواد په کومه لویه وچه کې پروت دی؟

الف: امریکا، ب: آسیا، ج: افریقا، د: اروپا.

۲- نن ورځ په نړۍ کې د......... په شاوخوا کې په وچې محاط شوی هېوادونه موجود دي.

۳- په کومه لویه وچه کې انسانان په عادي توګه ژوند نشي کولای؟

له ټولګي څخه د باندې فعالیت:

د نړۍ له نقشې څخه په ګټې اخیستو تر ټولو لویه وچه پیداکړئ او په هغې کې د پرتو څو هیوادونو نومونه ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه دېرشم لوست

# د آسیا لویه وچه

**موخه:**

زده کوونکي دې د آسیا لویه وچه و پېژني.

– په نړۍ کې ترټولو لویه او له نفوس نه ډکه لویه وچه کومه یوه ده؟

– د لویې وچې اوبه او هوا څنګه وي؟

دا لاندې لغتونه وپېژنئ:

| | |
|---|---|
| ښپاند | مست،ښې وهونکی |
| طبیعي سرحد | طبیعي ګډه پوله |
| سورروه | پلنه |
| معتدله | برابره، نه سړه او نه توده |
| وګړي | خلک |
| پیروان | لارویان |



د نړۍ په نقشه کې د آسیا د لویې وچې موقعیت



د آسیا سیاسي نقشه

آسیا د نړۍ ترټولو لویه وچه ده، چې کابو د نړۍ د وچې ۱/۳ برخه یې نیولې ده. ترټولو لوړ غرونه، ترټولو ټیټه او ژوره ځمکه او ترټولو ښپاند، ښپاند سیندونه په دې لویې وچې کې پراته دي. د نړۍ د اوسیدونکو تر نیمایي زیاته برخه په دې لویې وچې کې ژوند کوي.

زیات نفوس لرونکي هېوادونه په دې لویې وچې کې پراته دي. آیا ویلای شئ چې د آسیا لویه وچه د کومو سمندرونو د اوبو په واسطه محدوده شوې ده؟ د آسیا لویه وچه له دریو خواو څخه د نړۍ د لویو سمندرونو د اوبو په واسطه محدوده شوې ده. دغه لویه وچه د شمال ختیځ له خوا د بیرنګ د آبنا په واسطه د شمالي امریکا څخه او په لویدیځ کې د سویز د کانال په واسطه د افریقا له لویې وچې څخه جلا شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه د اورال غرونه، د اورال سیند، د کسپین سمندرګی، تور سمندرګی د آسیا او اروپا د دوو لویو وچو ترمنځ طبیعي سرحد جوړوي، چې دواړه لویې وچې یو ځای د (یوریشیا) په نوم یادېږي.

د آسیا لویه وچه د شمال له خوا په شمالي منجمد سمندر، د ختیځ له خوا په بحر الکاهل، د سهیل له خوا د هند په سمندر او د لویدیځ له خوا د اروپا په لویې وچې پورې نښتې ده. د آسیا لویه وچه له درو خواو څخه اوبوته او له یوې خوا وچې ته لار لري. لکه ومو ویل چې آسیا ډېره سورروه وچه ده، له دې امله یې اوبه او هوا په مختلفو ځایونو کې یو له بل سره توپیر لري. د بېلګې په توګه هغه سیمې یې چې شمالي قطب ته نږدې دي اوبه او هوا یې سړه او سویلي برخې یې تودې اوبه او هوا لري او نورې پاتې سیمې یې معتدله اوبه او هوا لري.

د آسیا لویه وچه د بشریت د تمدن لومړنۍ زانګو ده او د نړۍ د نفوسو په سلو کې ۶۰ برخې په هغې کې ژوند کوي. وګړي یې په ډول ډول نژادونو پورې اړه لري. د آسیا د لویې وچې د وګړو زیاتره برخه د اسلام د سپیڅلي دین، بودایي او مسیحیت پیروان دي.




تش ځایونه ډک کړئ.

۱- آسیا لویه وچه ده، چې اوبه اوهوا یې په مختلفو ځایونو کې یوله بله سره توپیر لري.

- ........................................................

- ........................................................

## پوښتنې:

د نړۍ نقشې ته وګورئ او جملې بشپړې کړئ.

۱- د آسیا لویه وچه د سوېل له خوا په ........... بحر او د ختیځ له خوا په د........... په سمندر د شمال له خوا په ........... او د لویدیځ له خوا په .............. نښتې ده.

۲- ................ د آسیا او اروپا د لویو وچو ترمنځ طبیعي سرحد جوړوي.

۳-

**له ټولګي څخه د باندې فعالیت:**

د خپل کتاب د نقشې په مرسته د یو څو لویو آسیایي هېوادونو نومونه ولیکئ او په ټولګي کې یې ولولئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د آسیا د لویې وچې یوشمېر هېوادونه

| گڼه | د هېواد نوم | پلازمېنه | دین | ژبه | د حکومت ډول |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | افغانستان | کابل | اسلام | پښتو- دري | اسلامي جمهوریت |
| ۲ | عربستان | ریاض | اسلام | عربي | پاچهي |
| ۳ | لبنان | بیروت | اسلام او مسیحي | عربي | جمهوري |
| ۴ | هندوستان | نوی ډهلی | هندو او نور | هندي | جمهوري |
| ۵ | ایران | تهران | اسلام | فارسي | اسلامي جمهوریت |
| ٦ | جاپان | توکیو | شینتو | جاپاني | مشروطه پاچهي |
| ۷ | پاکستان | اسلام اباد | اسلام | اردو-انگلیسی | اسلامي جمهوریت |
| ۸ | چین | پیکن | بومي مذهبونه | چینائي | جمهوري |
| ۹ | عراق | بغداد | اسلام | عربي | جمهوري |
| ۱۰ | ترکیه | انقره | اسلام | ترکي | جمهوري |
| ۱۱ | اندونیزیا | جاگارتا | اسلام | اندونزي | جمهوري |
| ۱۲ | تاجکستان | دوشنبه | اسلام | تاجیکي | جمهوري |
| ۱۳ | تایلند | بانکوک | بودائي | تایي | مشروطه پاچهي |
| ۱۴ | اردن | عمان | اسلام | عربي | مشروطه پاچهي |
| ۱۵ | سوریه | دمشق | اسلام | عربي | جمهوري |
| ۱٦ | مالیزیا | کوالالمپور | اسلام | مالیزیایي | مشروطه پاچهي |
| ۱۷ | شمالي کوریا | پیونگ یانگ | اته ئیست | کوریات | جمهوري |
| ۱۸ | جنوبي کوریا | سیول | مسیحي، بودایي | کوریایي | جمهوري |
| ۱۹ | ازبکستان | تاشکند | اسلام | ازبکي، روسي | جمهوري |
| ۲۰ | روسیه | مسکو | مسیحي | روسي | جمهوري |

(c) ketabton.com: The Digital Library

درې دېرشم لوست

# د اروپا لویه وچه

**موخه :**

- زده کوونکي دې د اروپا لویه وچه و پېژني.

دا لاندې لغتونه وپېژنئ:

| | |
|---|---|
| ځړوبی | آبشار، هغه اوبه چې له لوړ ځای څخه تویېږي |
| لامل | علت، سبب |
| مسیحي | عیسوي |

- د اروپا لویه وچه د آسیا د لویې وچې په کومه خوا کې پرته ده؟
- د اروپا د لویې وچې د څو هېوادونو نومونه واخلئ؟



د نړۍ په نقشه کې د اروپا موقعیت

د اروپا لویه وچه د آسیا د لویې وچې ادامه ده. له دې امله ځنې جغرافیه پوهان دواړه لویې وچې د یوریشیا په نوم یادوي.


اروپا د شمال له خوا په شمالي منجمد سمندر، د ختیځ له خوا د اورال په غرونو، د اورال د سیند، تور سمندرګي، دکسپین سمندرګی چې د آسیا او اروپا ترمنځ طبیعي سرحد دی، د سهیل له خوا د مدیترانې سمندرګی او د لویدیځ له خوا د اطلس د سمندر په واسطه محدوده شوې ده.

د اروپا د لویې وچې زیاتره برخې د معتدلې هوا په سیمو کې پرتې دي او ډېرې برخې یې ښه اوبه او هوا لري.


د اروپا په شمال کې ټیټ غرونه موجود دي او په سویلي برخو کې یې لوړ غرونه پراته دي، چې لوړې څوکې یې تېرې او په واورو پټې دي. د الپ او پیرنه غرونه د هغې له جملې څخه دي. ددې غرونو په منځ کې ښکلې ځړوبي او له اوبو ډک سیندونه شته او د هغوی د پاسه لوی بندونه جوړشوی دي چې له بریښنا څخه یې په صنعت او له اوبو څخه یې په کرنه کې کار اخیستل کیږي. د اروپا مشهور سیندونه د دانیوب او والګا سیندونه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اروپا کوچنۍ لویه وچه ده، خو ډېر نفوس لري. لامل یې دادی چې د هغې ښو اوبو اوهـــوا د پوهې او صنعت پراختیا او د کار او فعالیت امکانات برابر کړي دي. همدا دلیل دی چې د هغې زیاتره برخې زیات نفوس لري.




د ټولګي دننه فعالیت



د زده کوونکو هره ډله دې لاندې جملې بشپړې کړي او یو له بله سره دې پرې وغږېږي.

۱. د اروپا لویه وچه ................ ده.

۲. د اروپا زیاتره برخې د .......... په سیمو کې پرتې دي.

۳. د اروپا په شمالي او سهیلي برخه کې ....... غرونه پراته دي.

## پوښتنې:

۱ــ ځینې جغرافیه پوهان د اروپا اوآسیا دواړه لویې وچې په کوم نوم یادوي؟

۲ــ د اروپا د لویې وچې ختیځ پلو ته کومه لویه وچه پرته ده؟

سم ځواب خوښ کړئ.

۳ – د اروپا زیاتره وګړي:

الف: د اسلام په دین مشرف دي.　　ب - د مسیحي دین لري

ج – د یهودیت دین لري .　　د- هیڅ دین نه لري.

له ټولګي څخه د باندې فعالیت:

نقشې ته وګورئ او د هغې له مخې د اروپا څلور خواوې بیان کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د اروپا د لویې وچې د ځینو مشهورو هېوادونو جدول

| ګڼه | د هېواد نوم | پلازمېنه | دین |
|---|---|---|---|
| ۱ | انګلستان | لندن | مسیحي(عیسوي) |
| ۲ | آلمان | برلین | // // |
| ۳ | ایتالیا | روم | // // |
| ۴ | اتریش (استریا) | ویانا (وین) | // // |
| ۵ | فرانسه | پاریس | // // |
| ٦ | اسپانیا | مادرید | // // |
| ۷ | هالند | امستردام | // // |
| ۸ | دنمارک | کوپنهاګن | // // |
| ۹ | بلجیم | بروکسل | // // |
| ۱۰ | ناروې | اسلو | // // |
| ۱۱ | سویډن | ستا کهلم | // // |
| ۱۲ | فنلند | هلسنکي | // // |
| ۱۳ | البانیا | تیرانا | اسلام |



SS(P)0407

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د افریقا لویه وچه

**موخه:**


- زده کوونکي دې د افریقا لویه وچه وپېژني.

دا لاندې لغتونه وپېژنئ:

| | |
|---|---|
| قاره | براعظم، لویه وچه |
| سمندر | بحر، اوقیانوس |
| سهیل | جنوب |

- د افریقا لویه وچه د آسیا او اروپا د براعظمونو کومې خواته پرته ده؟
- د افریقا د لویې وچې د څو مهمو هېوادونو نومونه واخلئ؟

د افریقا لویه وچه د آسیا د لویې وچې جنوب لویدیځ خواته پرته ده. دا لویه وچه له آسیا څخه د سره سمندرګي په واسطه بیله شوې ده. د افریقا د براعظم شمال خواته د مدیترانې سمندرګی، ختیځ خواته یې د هند سمندر، لویدیځ لورته یې د اطلس سمندر او سهیل خواته یې د هند او اطلس سمندر ګډې اوبه واقع دي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

دا لویه وچه د مساحت او لویوالي له نظره د اسیا او امریکې له وچو څخه وروسته په دریمه درجه کې ده. افریقا توده هوا لري. هغه خلک چې په افریقا کې ژوند کوي زیاتره تور پوستکي دي. څرنګه چې د افریقا لویه وچه د شمال ختیځ له لوري نه مکې معظمې ته نږدې پرته ده، له دې کبله ډېر ژر د اسلام دین په دې لویې وچې کې خپور شو او اوس زیات اسلامي هېوادونه په دې لویې وچې کې دي.




زده کوونکي دې په څو ډلو ووېشل شي. هره ډله دې له نقشې څخه په ګټې اخیستو د هغو هېوادونو نومونه واخلي چې د افریقا په یو لوري کې پراته دي.

- د افریقا شمال کې ..............................
- د افریقا ختیځ کې ..............................

## پوښتنې:

لاندې جملې پوره کړئ:

۱- د افریقا لویه وچه د (                ) په واسطه له اسیا نه بېله شوې ده.

۲- د افریقا د لویې وچې شمال خواته (                ) پروت دی.

۳- د افریقا د څو هېوادونو نومونه واخلئ؟

**له ټولګي څخه دباندې فعالیت:**

د افریقا نقشه په ځیر وګورئ. د افریقا د لویې وچې څلور خـــواوې او د هېوادونـــو موقعیت په ډېرې پاملرنې له پامه تېر کړئ، ترڅو په بل وخت کې وکولای شئ په اســانی هغه پیدا کړې

ښوونکی صاحب دې زده کوونکي وپوهوي چې په نقشې باندې له سمندر او سمندرګي څخه پرته نور لیکـــل شــــوي نومونــــه د هېوادونو نومونه دي.

پنځه دېرشم لوست

# د امریکا لویه وچه

موخه:
زده کوونکي دې د امریکا لویه وچه وپېژني.

دا لاندې لغتونه وپېژنئ:

| | |
|---|---|
| مهاجر | کډوال، څوک چې له خپل وطن نه بل ځای ته ځي |
| بېړۍ | کښتۍ |
| کشف | پیدا کول |
| قاره | لویه وچه |
| نامتو | مشهور |

– د امریکا لویه وچه له څو برخو څخه جوړه شوې ده؟
– د امریکا د لویې وچې د څو مهمو هېوادونو نومونه واخلئ؟




له هغو ځایونو او سیمو څخه چې د نــړۍ خلکو خبرنه درلود او د بېړۍ چلولو د پرمختګ او زیاتو ګرځېدو څخه وروسته ورته ورسیدل، نـــو د نوې نړۍ په نامه یې یادکړل. دکرستوف کولومب په نوم یو سړي چــې په ۱۴۹۲ میلادي کال کې د هندوستان په لټه کې و، په تصادفي توګــه د امریکـا ځنډو ته ورسید او امریکا کشف شوه.

د اطلس سمندر د ختیځ له خوا څخه د امریکې لویه وچه د اروپا او افریقا له لویې وچې بېله کړې ده. د لویدیځ له لوري څخه آرام سمندر د امریکا لویه وچه د آسیا له لویې وچې نه بېله کـــړې ده. د امریکا لویه وچه د شمال له خوا نه سهیل ته پرته ده. شمال خواته یې شمالي کنګـل ســــمندر او سوېل لورته یې د آرام او اطلس سمندرونو ګډې اوبه واقع دي.

دا قاره په دریو شمالي، مرکزي اوجنوبي برخو وېشل شوې ده. په شمالي امریکا کـــې دوه لوی هېوادونه کانادا او د امریکامتحده ایالاتونه پراته دي.

په مرکزي امریکا کې ډېر هېوادونه پراته دي، چې مشهور هېوادونه یې مکسیکو، نیکاراګـوا او پانامه دي. په جنوبي امریکا کې هم ډېر هېوادونه شته، چې مهم یې برازیل، ارجنتاین، چیلي



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

او پیرو دي. د امریکې د لویې وچې د هېوادونو ټول وګړی د عیسویت د دین پیروان دي. ځینې مسلمانان هم په هغو هېوادونو کې ژوند کوي.




زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. هره ډله دې په نقشې باندې د لاندنیو موضوعاتو په یوې برخې باندی کار وکړي او د ډلې استازی دې هغه نورو ته ولولي:

- د نقشې له مخې د امریکې د لویې وچې په نښه او د کتاب له متن سره یې په کټلو څلور خواوې و ټاکئ.
- پر نقشه باندې د ځینو هېوادونو د موقعیت پیداکول.

## پوښتنې:

۱ـ د امریکې لویه وچه په کوم کال کې چا کشف کړه؟

۲ـ د امریکې متحده ایالات د امریکا د لویې وچې په کومه برخه کې پراته دي؟

۳ـ د امریکا د لویې وچې هېوادونه دکوم دین پیروان دي؟

۴ـ د امریکا لویه وچه د کومو سمندرونو په واسطه د آسیا، اروپا او افریقا له وچو څخه جلا شوې ده؟

**له ټولګي څخه د باندې فعالیت:**

په دې لوست کې د لوستل شوو هېوادونو نومونه په خپلو کورونو کې د نقشې پر مخ پیدا او ځانونه پرې پوه کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږ دیرشم لوست


# د استرالیا او اوقیانوسیې لویه وچه

موخه:
زده کوونکي دې د استرالیا او اوقیانوسیې لویه وچه و پېژني.

دا لاندې لغتونه وپېژنئ:

| | |
|---|---|
| ټاپو | جزیره |
| سمندرونه | بحرونه |
| قاره | لویه وچه |
| لویدیځ | غرب |

- د استرالیا او اوقیانوسیې لویه وچه د اسیا د لویې وچې په کومه خواکې پرته ده؟
- د استرالیا او اوقیانوسیې د لویې وچې دځو مهمو هېوادونو نومونه واخلئ؟




محترم استاد دې زده کوونکي وپوهوي له سمندر، سمندرگی او خلیج څخه پرته هر نوم چې په نقشه کې د ټاپو په څنگ کې لیکل شــوی دی هغه د یو هېواد نمایندهگي کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د استرالیا او اوقیانوسیې لویه وچه له یو لوی ټاپو او یو شمېر کوچنیو ټاپوګانو څخه جوړه شوې ده. د استرالیا او اوقیانوسیې لویه وچه له څلورو خواو څخه د سمندرونو په واسطه احاطه شوې ده.

لویدیځ ته یې د هند سمندر او ختیځ خواته یې آرام سمندر دی. د شمال لویدیځ له لوري څخه دې لویې وچې ته نژدې هېواد د اندونیزیا اسلامي جمهوریت دی. استرالیا، چې د اوقیانوسیې لوی ټاپو دی، یو خپلواک هېواد دی. د دې لویې وچې ټول هېوادونه د ټاپو په څېر د سمندرونو په منځ کې واقع دي. د استرالیا او اوقیانوسیې د لویې وچې ډېر مهم هېوادونه د استرالیا هېواد، فیجي، او نوي زیلاند دی.




زده کوونکي دې په څو ډلو ووېشل شي. هره ډله دې دخپل کتاب له نقشې نه په ګټې اخېستلو سره استرالیا او نوی زیلاند پیداکړي او په خپلو کتابچو کې دې ولیکي. وروسته دې د ډلې نماینده هغه د ټولګي په مخ کې نورو ته ولولي.

## پوښتنې:

۱ــ ولې ددې قارې هېوادونه د نورو وچو د هېوادو په څېر یو د بل په څنګ کې پراته نه دي؟

۲ــ ټاپو څه ته وایي؟

۳ــ ددې لویې وچې د څو هېوادونو نومونه واخلئ او د نقشې پرمخ یې پیداکړئ؟

له ټولګي څخه د باندې فعالیت:

د خپلو نقشو په کارونې سره د استرالیا او اوقیانوسیې هېوادونه وګورئ ترڅو په راتلونکې کې وکولای شئ ډېر ژر هغه پیدا کړې او هم د راتلونکې ورځې لوست د کتاب له مخې ولولئ.

اووه دېرشم لوست

# انتارکتیکا (سوېلي قطب)


موخه:
- زده کوونکي دې د انتارکتیکا لویه وچه و پېژني.

دا لاندې لغتونه وپېژنئ:

| | |
|---|---|
| نیمه ختیځه کره | د لندن له صفر درجې طول البلد څخه ختیځ خواته په دې نامه یادیږي |
| نیمه لویدیځه کره | د لندن له صفر درجې طول البلد څخه لویدیځ خوا دنیمې لویدیځې کرې په نامه یادیږي |
| سوېلي | جنوبي |
| مېشته | استوګن |
| تحقیقات | څېړنې |
| ځیر | دقت، توجه |

## په سهیلي قطب کې کومه لویه وچه واقع ده؟

انتارکتیکا د ځمکې دکرې شپږمه لویه وچه ده، چې د ځمکې د کرې په وروستۍ سوېلي برخه کې پرته ده.




د انتارکتیکا لویدیځ خواته د اطلس سمندر او آرام سمندر ګډې اوبه او ختیځ لورته یې د هند او آرام سمندر ګډې اوبه پرتې دي. شمال خواته یې د هند او اطلس سمندرګډې اوبه او سهیل لوري ته یې آرام سمندر پروت دی. له سمندرونو نه هاخوا ډېر نږدې هېواد انتارکتیکا ته په ختیځه نیمه کره کې نوی زیلاند او استرالیا[1] او په لویدیځه نیمه کره کې دارجنتاین[2] هېواد دی.

په دې وچه کې تل شپږ میاشتې ورځ او شپږ میاشتې شپه وي. هوا یې ډېره سړه او د خلکو د مېشته کیدو لپاره برابره نه ده. خلک په دایمې توګه هلته ژوند نه کوي. د پرمختللو هېوادونو پوهان هلته د علمي تحقیقاتو اوڅېړنو لپاره ځي.

---

۱- د نوي زیلاند او استرالیا نقشه دکتاب په (۷۸) مخ کې وګورئ.

۲- ښوونکی صاحب دې په ۸۲ مخ کې دارجنتاین موقعیت زده کوونکو ته وښيي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




کوم موضوعات چې زده کوونکو د کتاب په متن کې لوستی هغه دې له نقشې سره تطبیق کړي.

## پوښتنې:

۱- ولې خلک په دايمي توګه په جنوبي قطب يا انتارکتيکا کې ژوند نه کوي؟

۲- انتارکتيکا دکومو سمندرونو په واسطه احاطه شوی ده، نومونه يې واخلئ؟

۳- له سمندرونو نه ها خوا انتارکتيکا ته کوم هېوادونه نږدې پراته دي؟

۴- زموږ د هېواد شپه او ورځ له انتارکتيکا سره څه توپير لري؟

له ټولګي څخه د باندې فعاليت:

له (۸۲) نقشې نه د ګټې اخيستنې له مخې لويې وچې او سمندرونه په ځير سره وګورئ، چې کومې لويې وچې سره نږدې او کومې يو له بل نه لرې پرتې دي.

اته دېرشم لوست

# سمندرونه او د هغوی گټې


**موخه:**

زده کوونکي دې د نړۍ سمندرونه وپیژني.

– **د نړۍ دڅو سمندرونو نومونه واخلئ؟**

**دا لاندې لغتونه وپېژنئ:**

| گټه | فایده |
|---|---|
| سمندر | بحر اوقیانوس، زیاتې اوپراخې اوبه |
| ژور | د ځمکې ټیټه برخه |
| له نیکه مرغه | خوشبختانه |
| نړۍ | جهان |




**د ځمکې د مخ په سلوکې یې ۲۹ وچه او په سلوکې۷۱ یې اوبه دي. له نیکـــه مرغـــه ځمکه لوړې او ژور ځایونه لري. که ځمکه هواره وای دځمکې ټول مخ به اوبو نیولی وای. پـــه نړۍ کې څلور لوی سمندرونه شته، چې د آرام سمندر (بحرالکاهل)، اطلس (اتلانتیک) سمندر، هند سمندر او شمالي منجمد سمندر په نومونو یادیږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## آرام سمندر:

د نړۍ ډېر لوی سمندر آرام سمندر (لټ سمندر) نومېږي. آرام سمندر د لویدیځ له خوا د آسیا او استرالیا او اوقیانوسیې د لویو وچو او د ختیځ له خوانه د امریکا د لویې وچـې پـه واسطه احاطه شوی دی. دا سمندر د شمال له خوا نه تر بیرنګ آبنا پورې او د سوېل له خوا نه د انتارکتیکا تر وچې پورې غځېدلی او د ځمکې پرمخ یې ډېره لویه سیمه نیولې ده.

د سمندرونو اوبه د لمر د وړانګو د لګیدو په واسطه ورو، ورو په براس (بخار) اوړي. د زیاتو بخارونو په یو ځای کېدو وریځې جوړېږي. وریځې د وچو سیمو په لور راځـي او د واورې او اورښت په توګه په وچو باندې اورېږي. لوی واکمن خدای (ج) په نړۍ کې هر شي د انسانانو د ګټې لپاره پیداکړی دی.




زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډلــه دې د آرام سمندر د څلورو خواو په هکله د نقشې په پام کــې نیولــو ســره معلومات لاسته راوړي. دویمه ډله دې د سمندرونو د ګټو په باره کې معلومات پیداکړي. وروسته دې د دواړو ډلو استازي د ټـولګي پــه مخ کې خپل فعالیتونه څرګند کړي.

## پوښتنې:

خالي ځایونه پوره کړئ.

۱- (          ) په سلوکې د ځمکې مخ وچه ده؟

۲- د نړۍ ډېر لوی سمندر (          ) نومېږی؟

۳- (          ) په سلوکې د ځمکې مخ په اوبو پوښل شوی دی؟

۴- د ځمکې د مخ لوړ او ژور ځایونه څه ګټې لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

نهه دیرشم لوست

# د اطلس سمندر

**موخه:**

- زده کوونکی دې له اطلس سمندر سره آشنا شي.

دا لاندې لغتونه وپېژنئ:

| | |
|---|---|
| پخوانۍ نړۍ | د نړۍ معلومه برخه چې ټولو خلکو ته څرګنده وه او هغه د آسیا، اروپا او افریقا لویې وچې دي |
| نوې نړۍ | هغه ځایونه چې د نړۍ خلکو د هغه په باره کې معلومات نه درلودل، لکه امریکا او داسې نور |
| کان | معدن |
| اوقیانوس | بحر، سمندر |
| بهیږي | ځي، جریان لري |

- د اطلس سمندر پــه کــوم ځای کې پروت دی؟

په نړۍ کې دویم لوی سمندر د اطلس سمندر دی. دا سمندر د لویدیځ له خوا د امریکې لویې وچې او د ختیځ له خوا د اروپا او افــریقا لویو وچو احاطه کړی دی.




شمال خواته تر شـــمالي منجمـــد سمندر او سوېل ته د انتارکتیکا پـــه لویې وچې پورې نښتـــې دي. دا دوه سمندرونه (آرام سمندر او د اطلـــس سمندر) زړه یا پخوانـۍ نړۍ له نـــوې نړۍ څخه جلا کوي.

د سمندرونو اوبه تـــروې دي او د څښلو لپاره نه استعمالیږي. کله چـــې وریځې د سمندرونو له خوا د وچې خواته راشي، په غرونو کې د واورې او باران لامل ګرځي. له غرونو څخه سیندونه سرچینه اخلي او هوارو سیمو خواته بهیږي. د ســـیندونو پـــه واســـطه کرنیزې ځمکې خړوبه کیږي. د سیندونو پاتې اوبه په سمندرونو کې توییـــږي. کلـــه چـــې د سیندونو اوبو د مالګې د کانونو له سیمو څخه تیریږي او یوه برخه مالګـه په کې اوبه کیږي. دا مالګه د سیندونو په واسطه سمندرونو ته وړل کیږي. او په دې توګـه د سمندرونو اوبه تـــروې کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. هره ډله دې آرام سمندر او اطلس سمندر د نقشې له مخې په غور سره وګوري، چې دا دواړه په کومو برخو کې سره نښتي دي. وروسته دې هره ډله خپلې اړونده موضوع ګانې د ټولګی په وړاندې خپلو ټولګيوالو ته ولولي.

## پوښتنې:

۱ – په ترتيب سره د نړۍ د لويو سمندرونو نومونه واخلئ؟

۲ – پخوانۍ او نوی نړۍ څه توپير لري؟

۳ – ولې د سمندرونو اوبه تروې دي؟

**د ټولګي څخه د باندې د زده کوونکو فعاليت:**

سمندرونه موږ او تاسوته څه ګټه لري، په دې هکله پنځه کرښې وليکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځلوېښتم لوست

# د هند سمندر

| | |
|---|---|
| موخه: | |
| زده کوونکي دې د هند د سمندر موقعيت وپېژندلی شي. | |

دا لاندې لغتونه وپېژنئ:

| | |
|---|---|
| ساحل | د سمندر څنګ ياد رود غاړه |
| براعظم | لويه وچه |
| سوداګري | تجارتي |
| لېږدول | وړل |

– هغه هېوادونه چې له هند سمندر سره نږدې واقع دی، نومونه يې واخلئ؟

زموږ هېواد ته ډېر نږدې سمندر د هند سمندر دی. د هند سمندر د شمال له خوا څخه د آسيا له لويې وچې سره نښتی دی. د سوېـل له پلوه له انتارکتيکا سره نښتی دی. د لويديځ له خوا نه د افريقا له لويې وچې سره نښتی دی او د ختيځ له خوا له استراليا او اوقيانوسيې او آرام سمندر سره نښتی دی. د آسيا په براعظم کې د هند له سمندر سره نښتي هېوادونه له پاکستان، هند، بنګله دېش او اندونيزيا څخه عبارت دي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه هېوادونه چې د سمندر په خوا کې پراته دی، خلک یې کولای شي د کوم هېواد له مخنیوي پرته په اوبو کې هرې خواته تګ راتګ وکړي. په سمندرونو کې د سوداګرۍ مالونه د بېړیو په واسطه په ډېره ارزانه بیه له یوځای نه بل ځای ته لیږدول کیږي. د سمندرونو ترڅنګ ځیني اوسیدونکي د کبانو په ښکار بوخت دي.




د زده کوونکو هره ډله دې د لویوالي او کوچنیوالي لــه مخــې د سمندرونو نومونه په ترتیب ولیکي او په ټولګي کې دې نــورو تــه ولولي.

## پوښتنې:

د سمو جملو په وړاندې په پنسل باندې د (ص) توری او د غلطو جملو په خــوا کـــې د (غ) توری ولیکی.

۱– د هند سمندر له افغانستان سره نښتی دی. (      )

۲– د هند سمندر د آسیا د براعظم سهیل خواته پروت دی. (      )

۳– د هند سمندر د انتارکتیکا په شمال کې پروت دی. (      )

۴– د افریقا د براعظم ختیځ خواته د هند سمندر پروت دی. (      )

په سمندرونوکې د سړک جوړولو لګښت نشته. بېړۍ هرې خواته په ازادانه ډول تګ او راتګ کولای شي او همدارنګـه په یوې بېړۍ کې ډېر زیات مالونه وړل او راوړل کېږي. له دې لـــه امله له دې لارې د سوداګرۍ د مالونو کرایه ډېره ټیټه تمامیږي.

> له ټولګي نه دباندې د زده کوونکو فعالیت:
>
> هغه هېوادونه چې سمندر ته نږدې پراته دي په کوم دلیل کولای شي آزادانه هر ځای ته تګ راتګ وکړي. خپل دلایل ولیکئ او سباته یې خپلو ټولګیوالو ته وړاندې کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو څلویښتم لوست

# شمالي منجمد سمندر


**موخه:**

- زده کوونکي دې شمالي منجمد (کنګل شوی) سمندر وپېژني.

**دا لاندې لغتونه وپېژنئ:**

| | |
|---|---|
| منجمد | کنګل شوی، کنګل |
| شمالي قطب | دځمکې په شمال کې وروستنۍ برخه |
| جنوبي قطب | د ځمکې سهیل خواته وروستنۍ برخه |
| سایبریا | د روسیې په شمال کې د یوځای نوم دی، چې د شمالي منجمد سمندر ترڅنګ پروت دی |

- **شمالي منجمد سمندر په کوم ځای کې پروت دی؟**





**شمالي منجمد سمندر تر ټولو سمندرونو کوچنی دی او د آسیا، اروپا او امریکا د لویو وچو شمال ته پروت دی. څرنګـه چې په جنوبي قطب کې شپږ میاشتې ورځ او شپږ میاشتې شپه وی، په شمالي قطب کې هم شپږ میاشتې شپه او شپږ میاشتې ورځ وي. ددې سیمې هوا ډېـــره**

(c) ketabton.com: The Digital Library

سړه ده. د جنوبي قطب په خلاف په شمالي قطب کې سمندر یا اوبه شته، چې تل د کنګـل پـــه ځبر وي. یوازې کنګـل ماتوونکې بېړۍ کولای شي په هغې کې تر یوه ځایه پورې تـګ راتـګ وکړي. شمالي منجمد سمندر ته نیږدې هېوادونه په آسیا کې د روسیې، سایبریا، په اروپا کې د فنلیند او ناروې هېوادونه او په امریکا کې د کانادا هېواد دی.

د ټولګي دننه
فعالیت



د(۷۲)، (۷٦) او (۸۸) مخونو نقشه په غور له مخې تېره کړئ. هغه هیوادونه چې د شمالي منجمد سمندر تر څنګ پراته دي نومونه یې واخلئ.

## پوښتنې:

۱– شمالي منجمد سمندر د ځمکې په کومه برخه کې موقعیت لري؟

۲– کوم هېوادونه له شمالي منجمد سمندر سره نږدې پراته دي.؟

۳– د شمالي منجمد سمندر په څلورو خواوو کې کومې سیمې پرتې دي؟

له ټولګي څخه د باندې فعالیت:

د سمندرونو د ګټو په باره کې څو کرښې د مقالې په څېر ولیکئ.

SS(P)0407

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه څلویښتم لوست

# ځمکه او د هغې شکل

| | |
|---|---|
| موخه: | |
| - زده کوونکي دې ځمکه او د هغې شکل وپېژني. | |

دا لاندې لغتونه وپېژنئ:

| | |
|---|---|
| ځوړند | ځړېدلی |
| ځل | وار، نوبت |

- ځمکه چې موږ ژوند په کې کوو، څه ډول شکل لري؟
- انسانانو لومړی د ځمکې په هکله څه فکر کاوه؟



ځمکه گرد شکل لري. لومړی انسانانو داسې فکر کاوه چې ځمکه هواره ده او انسانان د یو مسطح هوار جسم د پاسه ژوند کوي. پخوانیو هندیانو ځمکه د یوې پاڼي او یا تختې په څېر گڼله، چې هغه د یوه فیل پر شا باندې پرته ده. بابلیانو ځمکه هواره گڼله او داسې عقیده یې درلوده، چې هغه د یوه غوایي د ښکر د پاسه ایښې ده.



له میلاد څخه د مخه په (۵۳۰) کال کې فیثاغورث د لومړي ځل لپاره د ځمکې په گرد والی باندې وپوهید. د ارسطو په نامه یوبل پوه د ځمکې کرویت د خسوف یعنې د میاشتې د تندر له نیولو څخه ثابت کړ او ویې ښوده چې ځمکه گردې ده.

نن ورځ د علومو د پرمختگ له مخې د اثابته شوې ده چې ځمکه کروي یعنې گرده ده او په هواکې د خدای (ج) په قدرت سره ځوړنده ده.

د ځمکې د کرې د ښه پېژندلو لپاره د هغې پرمخ باندې د طول البلد او عرض البلد فرضي کرښې رسم شوي دي چې د استوا کرښه د هغو له جملې څخه شمېرل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د استوا کرښه:

**د استوا کرښه څه شی دی او ځمکه په څو برخو وېشي؟**

**استوا یوه فرضي کرښه ده او د ځمکې کره یې چې مـــورِ د هغې پرمخ ژوند کوو، په دوو برخو یعنې شمالي نیمې کـــرې او جنوبي نیمې کرې باندې وېشلې ده. د استوا له کرښې څخه تـــر شمالي قطب پورې شمالي نیمه کره او د استوا له کرښې څخه تر جنوبي قطب پورې د جنوبي نیمې کرې په نامه یادیږي.**

**د لمر وړانګې په کال کې دوه ځلې یو وار د ورې د میاشـــتې په لومړۍ ورځ او بله پلا د تلې د میاشتې په لومړۍ ورځ د استوا په کرښه باندې عمود ځلیږي، چې له دې امله د شپې او ورځې اوږدوالی سره برابریږي یعنې ۱۲ ساعته ورځ او ۱۲ ســـاعته شپه وي.**

**د استوا کرښې ته د صفر درجې عرض البلد هم وایي.**



(c) ketabton.com: The Digital Library




د زده کوونکو هره ډله دې د ټـولګي د مخه یا د ښوونځي په انګړ کې یوه دایره جوړه کړي. د دایرې په دننه کې دې څو تنه د استوا کرښه داسې تمثیل کړي چې جنوبي او شمالي نیمې کرې وښیي.

**پوښتنې:**

لاندې جملې بشپړې کړئ.

۱- .............................. له میلاد څخه د مخه په ۵۳۰ کال کې د ځمکـې پـه کرویت پوه شو.

۲- ارسطو د ځمکې کرویت د ................................ له لارې ثابت کړو.

۳- هغه فرضي کرښه، چې د ځمکې کره په دوو شمالي او جنوبي نیمو کرو بانــدې وېـــشي، د ............................ په نامه یادېږي.

۴- د استوا کرښې ته په پاملرنې سره افغانستان په ............................ نیمه کـره کې پروت دی.

له ټولګي څخه د باندې فعالیت:

د خپلو مشرانو په مرسته د ځمکې کره رسم کړئ او په هغې کې د استوا کرښه ، شمالي او جنوبي نیمې کرې په نښه کړئ او بله ورځ یې په ټولګي کې ولولئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# طول البلدونه او عرض البلدونه

موخه:
- زده کوونکي دې طول البلدونه او عرض البلدونه و پېژني.

دا لاندې لغتونه وپېژنئ:


| | |
|---|---|
| غولی | انګړ، صحن |
| تمثیل | په عملي توګه د يو کار ښوول |

- د طول البلد مبداء له کوم ځای څخه تېرېږي؟
- د ځمکې دکرې په مخ باندې د عرض البلد څو کرښې موجودې دي؟




د ځمکې کره د يوې بلې فرضي کرښې په واسطه، چې طول البلد نومېږي په ختيځو او لويديځو دوونيمـــو کـــرو باندې وېشل کېږي. دغه فرضي کرښه چې د لندن ښار لـــه ګرينويچ څخه تېرېږي، د طول البلد د صفر درجې په نامـــه يادېږي. طول البلدونه له شمالي قطب څخه پيل او ترجنوبي قطب پورې غځيدلي دي.

د هغوی مبداء د لندن د ګرينويچ د طول البلد له صفر درجې څخه پيـــل (۱۸۰) درجـــې ختيځ خواته او (۱۸۰) درجې لويديځ خواته پراته دي، چې ټول د طول البلد (۳٦۰) درجـــې کېږي . د طول البلدونو د فرضي کرښو له مخې وخت ټاکلی شو.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## عرض البلد:

عرض البلدونه هغه فرضي کرښې دي چې مبدا یې د استوا کرښه ده او ځمکه په دوو شمالي او جنوبي نیمو کرو باندې وېشي. دغه کرښې د موازي کرښو په نامه هم یادوي، ځکه چې تل په موازي شکل پرتې وي او یو بل نه قطع کوي. د عرض البلدونو شمېر (۱۸۰) درجــو تــه رسېږي چې (۹۰) درجې یې په شمالی نیمه کره او (۹۰) درجې نور یې په جنوبي نیمه کــره کې پراته دي. د عرض البلدونو له فرضي کرښو څخه په ګټه اخیستنې کولای شو د یــوې ســیمې سوړوالی او تود والی او د هغې موقعیت پیداکړو.

شمالي قطب




جنوبي قطب




د زده کوونکو هره ډله دې د لوست غوره مطلبونه په لنډه توګه ووایي. د زده کوونکو هره ډله دې د (۷۱) مخ له نقشې څخه په کار اخیــستلو د عرض البلدونو مبدا پیدا کړي چې له کومو لویو وچو څخه تېرېږي.

## پوښتنې:

لاندې جملې بشپړې کړئ.

۱ – هغه فرضي کرښه چې شمالي او جنوبي قطب سره نښلوي د........... په نوم یادېږي.

۲ – هغه فرضي کرښه چې ځمکه په دوو شمالي اوجنوبي نیمو کرو باندې وېشي د........ په نوم یادېږي.

۳ – د ځمکې پرمخ د عرض البلد څوکرښې موجودې دي.

**له ټولګي د باندې فعالیت:**

د ځمکې کره رسم کړئ او په هغې کې عرض البلدونه په نښه کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ځمکې حرکتونه

موخه:
- زده کوونکي دې د ځمکې وضعي او انتقالي حرکتونه وپېژني.

دا لاندې لغتونه وپېژنئ:

| | |
|---|---|
| بشپړ | مکمل، پوره، تکمیل |
| کرښه | خط،لیکه |

– د عرض البلدونو او طول البلدونو په هکله څه پوهېږئ؟


– ځمکه څو ډوله حرکتونه لري؟

**د ځمکې کره دوه ډوله حرکت لري، چې يو يې د وضعي اوبل يې د انتقالي حرکت پــه نومونو يادېږي.**

**ځمکه په ۲۴ ساعتونو کې يو وار د خپل فرضي محور پر شاوخوا څرخېږي، چې دې ډول حرکت ته وضعي حرکت وايي او د همدې حرکت له مخې شپه او ورځ پيداکيږي.**

**ځمکه په (۳٦۵) ورځو او ٦ ساعتونو کې د لمر پر شاوخوا باندې خپل انتقالي حرکت سرته رسوي، چې دې ډول حرکت ته د ځمکې انتقالي حرکت وايي. ددې حرکت له مخې چې د لمر په شاوخوا ګرځي، دکال څلور فصلونه منځ ته راځي. د څلورو کلونو په تېرېدو سره يو کـــال ۳٦٦ ورځې کيږي او هغه کال چې ۳٦٦ ورځې وي دکبيسه کال په نامه يادېږي.**

د ځمکې انتقالي حرکت



(c) ketabton.com: The Digital Library

### د ټولګي دننه فعالیت



د زده کوونکو هره ډله دې د لوست غوره مطلبونه را لنډ کړي او یو له بله سره دې خبرې پرې وکړي.

## پوښتنې:

لاندې جملې بشپړې کړئ.

۱– د ځمکې کره ............ حرکتونه لري.

۲– ځمکه په ..................... یو وار دخپل فرضي محور په شاوخوا څرخې چې دغه حرکت د....................... په نوم یادوي.

۳– ځمکه په (۳۶۵) ورځو ......................... کې خپل انتقالي حرکت بشپړوي.

**له ټولګي څخه د باندې فعالیت:**

د ځمکې کره رسم او طول البلدونه په کې وښيئ.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**